مورچل

په عسکرو دې ور حمېږه!

دیارلسم کال، درېیمه، پرلپسې ۱۲۷مه ګڼه،

رجب المرجب ۱۴۴۰هـ ق مارچ ۲۰۱۹م

- ولس وژونکی حکومت
- څاروي به څه خوري، چې عسکر واښه خوري ... !!
- دقطر راتلونکې بین الافغاني غونډه او هیلې !
- دلاسپوڅوچیغې او دآقا بې التفاتي !!

اشغال، پایان اشغال و نقش منفی رسانه ها

د امریکایي جنرال اعتراف...

او غلامانو ته د خلیل زاد پېغور ...

مورچل

علمي، سياسي او جهادي مياشتنۍ خپرونه

ديارلسم کال درېيمه، پرلپسې ۱۲۷مه ګڼه، رجب المرجب ۱۴۴۰هـ ق مارچ ۲۰۱۹م

لړليک

ګڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله	۱
۲	ولس وژونکی حکومت	۲
۳	د مذاکراتي پروسې د تسریع لپاره څه باید وکړای شي	۳
۴	خاروي به څه خوري، چې عسکر وانښه خوري!!	۵
۵	د قطر راتلونکې بین الافغاني غونډه او هیلې!	۷
۶	د لاسپوڅو چیغې او د آقا بې التفاتي	۹
۷	اشغال، پایان اشغال ونقش منفی رسانه های	۱۲
۸	د امریکایي جنرال اعتراف او د خلیلزاد پېغور	۱۶
۹	نوې کال او نوې هیلې!	۱۸
۱۰	د قلم له مورچله!	۲۰
۱۱	دیموکراسی؛ دغورځلی (منار) ونړوله!!	۲۲
۱۲	د کرایسټ چرچ بریدونه موخې او عبرتونه	۲۴
۱۳	د اسلامي امارت ثبات	۲۸
۱۴	د اسلام غزوات او سرایا	۲۹
۱۵	جنګي جنایتونه (مارچ)	۳۶
۱۶	د تعلیم او تربیه او عالي تحصیلاتو کمیسیون اعلامیه	۴۰
۱۷	د بندي د وفات له امله د بندیانو چارو کمیسیون اعلامیه	۴۱
۱۸	د مورچل وړمې	۴۲
۱۹	د ۲۰۱۹م کال دمارچ مياشتې جنګي جنایتونه	۴۴

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

صلاح الدین "صارم"

کتنپلاوی

حسن خپل | ایوب صافی
حسن زوی | حکمت بغلانی
زبیر مسافر | حافظ سعید

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

په عسکرو دې ورحمپېره!

نور يې په طالبانو مه وژنئ! په هيڅ ډول يې روحيه نه شئ اوچتولی، طالب په عقيده جنګيږي، په فکر جنګيږي، د وطن په مينه جنګيږي ديو څو ډالرو په مقابل کې خطا ايستلي دا ځوانان نور د خپلو هوسونو مه قرباني کوئ!

هغوی پوهيږي چې مونږ له وطنه په څه ډول دفاع کوو او د وطن اختيار مو له چا سره دی ؟ که هغوی په عقيده او فکر جنګېدلی هيڅکله به دطالب په مقابل کې مغلوب نه وو او د دومره مادي وسايلو له شتون سره بـه يـې خامخـا طالب مات کړی و، خو داچې له همدغو امکاناتو سره سره ډلې ډلې تښتي او يا تسليميږي، همدا فکر او ماته روحيه ده چې زمونږ جګړه هيڅکله د وطن په دفاع کې نه! بلکې غـرب تـه ديوځـو وفـاداره اشخاصـو د ذاتي ګټـو لپـاره ده او د هغوی د هوسونو قرباني دي، هغوی ته هم هيڅکله د دوی مرګ ژوبله مهمه نه ده او له غربي ګټو نه په دفاع کـې يـې پروا نه لري.

که له يوې خوا د هيواد مسلمان مظلوم او بې دفاع ولس په بمباريو، شپنيو عملياتو او ړندو هوانونو وژني، له بـل لوري په طالبانو دخپلو هوسونو او خرمستيو لپاره دخپلو عسکرو وژل يې هم ددغه ولس وژنې يوه برخه ده .

دسروهلو او سنګرنيولو ناممکن شعار دکابل لاسپوڅو ته هيڅ ځای ونه نيو، بلکې برعکس ببرته پـردوی عمـلي شو او په هر سنګر کې يې دمقاومت روحيه له لاسه ورکړې او له مخکې نه په څو برابره يې تلفات زيات شوي دي .

يوائې په داټره يوه اوونۍ کې په بادغيس، اروزګان، بلخ، زابل، بدخشان، فارياب، غزني او هلمندکې دجګـړو په دوران کې تر١٣٦ زيات عسکر وژل شوي دي، دا کومه افتراء او دروغ نه دي، بلکې حقيقت يـې د رسـنيو پـه هغـو ويډيوګانو کې هم نشر شو چې عسکر ويې دخپلو ټپيانو دعلاج او مړو د انتقال دوس نه لرلو فريادونه پکې کول .

که يوځوک ووايي چې خو طالبان دې د دوی له مرګه لاس واخلي داخبره بـه ځکـه نامشروع وي چـې اسـلامي امارت په خپل وار بار بار ثابته کړې چې لومړی عسکروته له جګړې دلاس اخيستلو اعلان کوي، په جګړه کې دټپيـانو علاج کوي، له اسيرانو سره نېکه اسلامي رويه ترسره کوي او ډېر ژر يې بې بدله پرېږدي .

خود پردي پال، غلام او غيراسلامي نظام په دفاع کې بيا په کلکه ورسره جنګيږي او په دې لارکې ترشهادته ټـول کړاوونه په ټوله تلوسه ترسره کوي او خپل مسؤليت يې بولي .

همدلته ده چې ددغو عسکرو دمرګ مسؤليت هغه چاته راجع دی دچا دهوسونو اوغلامۍ په دفاع کې چې وژل کيږي.

داچې دطالب په وړاندې نه دجګړې مقاومت لرې اونه دې دنظام مشـروعيت شـته، نـو نـور دې پـه دې خـوارو عسکرو ورحمپېره، اوله دې بې ځايه اوبې ګټې مرګونو څخه يې لاس واخله!

ولس وژونکی حکومت

معین احمد (معین)

په داسې حال کې چې په قطر کې د سولې په اړه د بین الافغاني تفاهم غونډه په رانیږدي کیدو ده د هیواد په دننه کې په عملي ډول د ګډحکومت او ګډو ځواکونو لخوا د بیوزله ولسي- افغانانو د بمبارولو او وژلو لړۍ تر بل هروخت ګړندۍ او خونړۍ شوې ده.

د کابل خواو شا ولایتونوبیوزله ولسي وګړي د ګډو ځواکونو لخوا د هوایي او ځمکنیو ورځنیو بریدونو مظلوم قربانیان دی.

هیڅ داسې ورځ نه وي چې امریکایي ځواکونه دې د داخلي عسکرو په ملتیا د یادو ولایتونو په مربوطاتو کې هوایي او ځمکني شپني عملیات نه وي تر سره کړي.

دا چې د پلازمیني په ګاونډ کې پراته ولایتونه کابل ته په لنډ واټن کې پراته دي ځکه نو په هغو کې د ګډو ځواکونو لخوا د ترسره کړیو عملیاتو او هلته د عملیاتو په ترڅ کې د رسیدلیو ولسي تلفاتو خبره ډیر ژر تر رسنیو رسیږي.

کنه د وردګو ترځنګ غزني، پکتیا، پکتیکا ، ننګرهار او خوست نور هغه ولایتونه دي چې تل ورځخه دګډو ځواکونو په لاس د ولسي خلګو د مرګ ژوبلې رپوټونه ورکول کیږي.

که نورهم د امریکایي او دولتي ځواکونو لخوا په هیواد کې د ولس وژنې دغه خونړۍ لړۍ همداسې په لاپروایي روانه وي ښایي د سولې په تړاو د طالبانو او امریکایانو ترمنځ روان مذاکراتي بهیر اغیزمن کړي.

ځکه افغانان چې یاد مذاکراتي بهیر ته هیله مند دی هغه له دې امله چې نور به یې په هیواد کې د جګړې اور خاموشه او د مرګ ژوبلې سلسله ختمه شي.

خو دا چې د یاد مذاکراتي بهیر له جریانه سره په افغانستان کې د بیوزله ولسي- وګړو د مظلومانه وینو ویالې په بهیدو دي نو مظلوم افغانان به له دغه ډول مذاکراتي بهیر څخه څه توقع ولري؟!

ګډ حکومت چې د اشغالګرو امریکایانو په مرسته د خپل ولس په عام وژنه مصروف دی افغان ولس ورته د یوه نا مشروع او مزدور رژیم په سترګه نه ګوري او هیڅ توقع تري نه لري.

خو طالبان چې ولس ورته د امید سترګې لري او امریکایان یې هم د ځان سیال ګڼي د قضیې د یوه مسؤل جهت په حیث باید له امریکایانو سره د خپل ولس د دغې عام وژنې خبره په جدي توګه مطرح او له هغوی څخه د مذاکراتي بهیر په ترڅ کې په جدي ډول د دغو وحشیانه بریدونو د توقف غوښتنه وکړي.

د مذاکراتي پروسې د تسریع لپاره څه باید وکړای شي؟!

عبدالرحیم (ثاقب)

۸ میاشتې وړاندې د قطر هیواد په پلازمینې دوحه ښار کې د اسلامي امارت او امریکایي چارواکو ترمنځ د افغانستان د سولې په اړه مخامخ خبرې پیل شوې .

دا خبرې په لومړي ځل د تیر میلادي کال د جولای په میاشت کې د امریکا د بهرنیو چارو د مرستیالې الیس ویلز او په قطر کې د اسلامي امارت د سیاسي دفتر د چارواکو ترمنځ وشوې چې تر هغه وروسته د امریکا د بهرنیو چارو وزارت دیادو خبرو د پرمخ بیولو لپاره زلمي خلیلزاد د خپل ځانګړي استازي په توګه تعین کړ چې تر اوسه پورې یې د خپل ماموریت په تړاو ګڼ سفرونه افغانستان او ګاونډیو هیوادونه ته کړي دي.

د طالبانو او زلمي خلیلزاد په استازیتوب پیل شوې مذاکراتي پروسه د یوه ښه فرصت په توګه له افغانانو او همداراز نړیوالو سره دا هیله مندي پیدا کړه چې ښایي نور په افغانستان کې د جګړې اور خاموش او افغانان به د جګړې له شره په امان شي.

خو له بده مرغه لکه څرنګه چې د افغانانو توقع وه د هغې برعکس مذاکراتي پروسه د امریکایانو لخوا له عام وژنې سره داسې مل شوه چې که د امریکایي بریدونو او بمباریو دا لړۍ همداسې دوام پیدا کړي افغانان به یې پر مؤثریت خپل باور له لاسه ورکړي.

پر مذاکراتي پروسې د افغانانو بې اعتمادي په حقیقت کې د یادې پروسې په عملي کیدو کې جدي ننګونې رامنځته کولای

شي ، داسې ننګونې کـه يې سرله اوسه د مخنيوي او معقول هـواري چـاره ونه کړل شي ښايي په داسې جـدي سـتونزو بـدلې شي چې په مجموع کې ټوله پروسه له بشپړ رکـود سره مخ کړي.

د مـذاکراتي پروسې دواړه لوري کـولای شي په معقول ديپلوماتيک تعامل سره د سولې په لاره کې د پرتـو سـتونزو اوننګونـو مخنيوی وکړي.

ځکه مونږ ګورو چې پـه افغانسـتان کـې همـدا اوس نور د يخني موسم په بدليـدو دی ، نوکـه سـوله ييـزه پروسـه چټکـه نشي- ښايي د موسم په پيليـدو سره د طرفينـــو تـــرمنځ پوځي مقابلـه دومـره ګرمـه شي چـې د جګړو په تـاو کـې بـه يـې همـدا تـرسره شوې هڅې هم وسوځيږي.

لهـذا د مـذاکراتي پروسـې دواړو لوريـو تـه پـه کـار ده چـې د هغې د تسريع لپاره جدي او عملي ګامونه پورته کړي.

امريکايان چې پر ولسي- وګړو يـې د وحشـيانه بمبـاريو لړی ګرمه کړې ښـايي اصـلي هـدف يـې تـرې پـر اسـلامي امـارت فشـار راوړل او په نتيجه کـې يـې پـر طالبـانو خپلـې نامشروع غوښتنې منل وي.

خـو امريکايـان بايـد پـوه شي چـې لکـه څرنګـه چـې يـې پـر طالبانو تير١٨کلنی پوځي فشـار بـې اثـره و همـدا ډول بـه يـې پـه مذاکراتي بهير کې د ولسي خلګـو وژلـو او بمبـارولو فشـار هـم بـې اغيزې وي.

او دغــه ډول فشــارونه لــه دې پرتــه چــې روانــه لانجــه لا ستونزمنه کړي بله هيڅ ګټه نه لري.

د مذاکراتي بهيـر موثريـت پـه دې کـې دی چـې لـه هـر ډول تعلل او بهانه جويي پرته پر واقعيتونو اعتراف وشي او هـر لـوری د مقابل هغه مشروعې غوښتنې ومني.

همـدا د مـذاکراتي بهيـر د موثريـت او تسرـيع يـوه اسـاسي وسـيله ده چـې کيـدای شي دواړه لـوري يـې پـه عمـلي کولـو سره خپلې مطلوبې غوښتنې تر لاسه کړي.

څاروي به څه خوري، چې عسکر وانښه خوري،...!!

موسی فرهاد

راپورونه وايي چې د کابل اداري أجرتي مليشې، د مرګ د تهديد ترڅنګ اوس د سختي لوړي له خطر سره هم مخ دي، ويل کيږي چې د خاص ارزګان په ولسوالۍ کې لسګونه محاصره عسکر د ځان د ژوندي پاتې کېدو لپاره وانښه خوري.

شمشاد تلويزون ته د دغو کلابندو عسکرو يو قومندان تليفون کړی، وای زخميان په پوستو کې راته پراته دي، چې يو په بل پسې د نه علاج له امله مړه کيږي. او د مړو جسدونه يې هم کورنيو ته نشو ليږلای، نه مو مرستې ته څوک راځي او نه مو څوک غږ اوري.

تېره چهارشنبه د فاريياب له شيرين تګاب نه هم کلابندو عسکرو په يو ويډيو کې د مرستې او نجات زاری کولې، دوی ويل، له درو څلورو مياشتو راهيسې، کلابند يو، له خپلو پوستو بهر نشو وتلی، خوراک، څښاک درملنه هيڅ شی مو نشته، وانښو خوړلو ته اړ يو، چارواکي مو غږ نه اوري، اولادونه او کورونه مو ترشا پرايښي موږ دلته کلابند پاتې يو.

دغه ډول پيښې لومړی ځل نه دي، تر دې وړاندې هم څو ځله داسې خبري رابرسيره شوې چې د مزدورې اداري دا بې سرنوشته عسکر په دغسې بدمرغه برخليک اخته دي. خو بيا هم دوی د يو څو امريکايي ډالرو پخاطر خپل ځان، کورنۍ، اولاد او هرڅه د تباهۍ کندې ته ورغورځوي. چې پايله يې هم دنيا ولاړه شي او هم آخرت.

که له يوې خوا يې د لوړې دا حالت دی، له بلې خوا يې مرګ ژوبله هم دومره ده چې سړی حيران پاتې کيږي، نيويارک ټايمز امريکايي ورځپاڼې وړمه ورځ ليکلي وو چې، په دا نړۍ کې تيره يوه اونۍ ۱۰۰ تنه دولتي ځواکونه وژل شوي. ورځپاڼه وايي، سره له دې چې افغان حکومت د خپلو ځواکونو مرګ ژوبله پټه ساتي، خو په وينا يې بيا

هم دومره زیات وژل کیږي چې پټیدل یې ناممکن شي، وای لکه د هلمند په سنګین کې، چې تر حد زیات عسکر ووژل شول.

د تیر کال وروستۍ دسمبر میاشت کې هم د یو شمېر دولتي کسانو له خولې د عسکرو د زیات شمیر مرګ ژوبلې، دندې پریښودلو او طالبانو ته د تسلیمیدلو خبرونه رابرسیره شول:

۱- د بادغیس ولایتي شورا رئیس وویل، په تېرو دوو اونیو کې ۸۰عسکر د طالبانو لیکو ته ورغلي .

۲- تر اسدالله خالد وړاندي دفاع وزیربهرامي، پارلماني غونډې ته وویل، په یوه اونۍ کې په ټول هیواد کې تر ۲۵۰ زیات افغان سرتیري وژل کیږي.

۳- د بدخشان وکیلي فوزیه کوفي وویل، په بدخشان کې په درو ورځو کې تر ۱۰۰ ډېر عسکر طالبانو وژلي.

٤- سیګار پخپل راپور کې وویل، په تېر یوه کال کې لږترلږه ۳٦ زره افغان ځواکونو دندې پرې ایښي دي.

۵- طالبانو پخپلو کلني راپور کې وویل، په تېریوه کال کې یې ۲۷ زره کورني او بهرني عسکر وژلي، چې ۵۰٦ تنه یې تنها قومندانان دي.

نو د حیرانتیا خبره دا ده چې له یوې خوا یې مرګ ژوبله او تلفات دومره ستر دي، چې حتی امریکایان یې خپله هم بمباروي، او هم دوی پخپل منځ کې سره وژني، دا دوې هفتې مخکې د ارزګان په چنارتو کې امریکا یوه پوسته بمبار کړه، ۱٦ عسکرو ته یې مرګ ژوبله واړوله، نن یکشنبه ۳۱ مارچ، په همدغه ارزګان کې د اردو او ملي امنیت عسکرو په خپل منځي نښته کې د ملکیانو په شمول پنځه نفره سره ووژل او زخمیان کړل.

نو له یوې خوا یې د مرګ او ژوند دغه حالت دی او له بلې خوا یې د ډالرو پیدا کولو کار دومره وران دی، د کوم څه لپاره چې دوی خپل ننګ، ناموس، ایمان، وطن او غیرت وپلوره؛ ترڅو ډالر ځان ته پیدا کړي، خو پرځای یې اوس له لوږې د ځمکې را شنه شوي د څارویو واښه خوري، مګر لا بیا هم دوی د امریکایانو په قومنده د هغوی لپاره له خپل مسلمان ولس سره جنګیږي، هم ځان وژني او هم ولس وژني.

د پرون ورځې خبر دی چې د غزني قرباغ ترمنځ د ملانوح بابا په سیمه کې عسکرو یو ښوونځی په نښه کړی، څه دپاسه شل تنه ماشومانو ته یې مرګ ژوبله اړولې.

بیشکه چې دا نو د بدبختۍ ترټولو بد حالت دی، «خسِرَالدنیا والآخرة، ذلک هوالخسران المبین». الله دې جاهلانو ته هدایت وکړي او ازلي بدبختان دې الله پاک نور هم د هلاکت کندې ته وغورځوي چې دا بیچاره ملت یې له شره خلاص شي. چې نور بیا نه د بې ګناه انسانانو وینې وزیښي او نه د بې زبانه څارویو واښه وخوري.

لیکوال: م. جمیل باور

د قطر راتلونکې بین الافغاني غونډه او هیلې!

د ۱۳۹۷ ل کال د دلوې په ۱۷ مه نیټه د روسیې په پلازمینه مسکو کې د یوې افغاني ټولنې په ابتکار د افغان سیاستوالو او اسلامي امارت ترمنځ یوه ناسته دایره شوه چې دوه ورځې یې دوام وکړ او د ناستې په پای کې یو پرېکړلیک هم خپور شو، چې پکې ټولو ګډونوالو په یوه خوله د افغانستان د اشغال د پای ته رسیدلو او د یوافغان شموله اسلامي نظام په راتګ اصرار کړی و.

د مسکو د غونډې په دوام ټاکل شوې چې د روانې اپریل میاشتې په ۱۵ مه نیټه د قطرهیواد په پلازمینه دوحه کې د افغانانو په ابتکاریوه بله ناسته هم جوړه شي، چې د اسلامي امارت استازي، پخواني افغان چارواکي، د مدني ټولنو غړي، ژورنالستان، پخواني طالب چارواکي، د مهمو افغاني ګوندونو مشران او د هیواد ځینې نور مخور شخصیتونه به پکې برخه ولري.

د مسکو د غونډې په څېر راتلونکې ناستې ته هم د کابل ریژیم استازي نه دي بلل شوي او که وروسته هم کوم څوک د حکومت له ادرسه ځي په غونډه کې به یواځې د یوافغان په توګه برخه اخلي.

دا چې له تېرو څومیاشتو راهیسې د اسلامي امارت د استازو او امریکایانو ترمنځ له افغانستان څخه د ټولو بهرنیو اشغالګرو عسکرو د وتلو او له راتلونکي افغانستان څخه نړۍ ته د نه ګواښ په سر خبرې روانې دي او د یادو خبرو پنځه پړاوه ترسره شوي دي، ځینې پرمختګونه هم پکې شوي اوتمه ده چې په نیږدي راتلونکي کې شپږم پړاو هم پیل شي.

اوس مهـــال چـــې د امریکایانو لخـوا د مـذاکره کونکي پلاوي مـــشر زلمـی خلیلـزاد د سـیمي پـه سـفر دی، په داسي وخـت کـې د اسـلامي امـارت د اسـتازو اونورو افغانانو ترمنځ خپـل منځي ناسته خورا اړینه ده، د راتلـــونکي ارام او هوســا افغانســتان تضـمین پکـې نغښـــتی، د داسي غونـــډو جوړیـــــدل او د اســـــلامي امارت لخوا پکي ګډون او د نورو د نظریاتو اوریـدل پـه ډاګـه کـوي چـې اسـلامي امـارت تربـل هرچـاډیر د هیواد د راتلونکي په غم کې دي.

دا چې په اوسنیو حالاتو کې اسلامي امارت په یو ډېرښه نظـامي او سیاسي موقـف کـې قرارلـري، د هیـواد پـه نېـژدې ۷۰سـلنه خـاوره عملاًواک لري، د اشغالګرو په وړاندې پیل کړی مقدس مقاومت یې د بریا تر پولو رسولی او په سیاسي میدان کې یې امریکایان اړکـړي چـې مخامخ خبرو ته ورسره کیني. د بین الافغاني مـذاکراتو ابتکـاریي هـم په لاس کې اخیستی او د کابل ریژیم څخه پرته له نورو ټولـو افغانـانو سره خبرو اوډیالوک ته اهمیت ورکوي.

له بل طرفـه اوس د جـانکیري پـه لاس د امریکاپـه سـفارت کـې جوړشوي او په اولس په زور تپل شوی ریژیم په ترټولـو کاواکـه پـوځي او سیاسي موقف کې قرار لري، د ولـس، سـیاسي ګونـدونو او حتـی د خپلو بهرنیو بادارانو لخوا منزوي شوی، د اشغالګرو له تیښتې وروسته به ان شاءالله موجوده ریژیم په خپله له منځه ځي اوځاي به یي یوټـول شموله اسلامي نظام نیسي.

د اسلامي، خپلواک، پرمختللي او هوسا افغانستان په هیله...

دلاسپوڅو چیغې او د آقا بې التفاتي!!

دتېروڅو میاشتو راهیسې چې داسلامي امارت او امریکاترمنځ دمذاکراتو لړۍ روانه ده وروستی اوترټولو اوږد پړاؤ یې د قطر په پلازمېنې دوحه کې ترسره شو.

په دوحه کې ترسره شوي دا وروستي مذاکرات دتېرې فروری میاشتې په ۲۵ مې نېټې پیل اودروانې مارچ میاشتې په ۱۲ مې نېټې پای ته ورسېدل چې پدې توګه یې پوره ۱۶ ورځې دوام وکړ اودمذاکراتود لړۍ ترټولو اوږده مذاکرات وګرځېدل ؛ چې پکې په دوه مهمو مسئلو خبرې وشوې او د بیا کیناستلو او خبرو کولو په توافق پای ته ورسېدې .

دغو اوږدو مذاکراتو کې په هغو دوو مهمو ټکوخبرې وشوې چې په جنورۍ میاشتې کې ورباندې ددواړو اړخونوترمنځ موافقه رامنځته شوې وه ؛ چې یو یې له افغانستان څخه د ټولو امریکایي عسکرو وتل ، او بل د افغانستان له خاورې نړۍ او امریکا ته د خطر او ضرر نه پېښېدل و، چې پایله کې یې دواړه لوري تقریبا توافق ته رسیدلي او خبره د حتمي توافقاتو د لاسلیکولو په پوله ودرېدلی ده .

داچې ټول بهرني ځواکونه به له افغانستان څخه په څه ترتیب اوپه څومره وخت کې وځي ؟

همدا راز دآینده افغانستان نه به امریکایان او ملګري یې څه ډول مطمئن کېږي ؟ پدې دواړو برخو کې ډېر پرمختګ وشو؛ اوس به پدې پرمختګونو دواړه لوري زیات غورکوي ؛ دخپلو مشرانو سره به یې شریکوي اوپه راتلونکې غونډه کې چې وخت به یې ددواړو مذاکراتي ټیمونوپه موافقه تعینیږي امادګي نیسي .

که په غور وکتل شي نودقابضوځواکونو دناپاکه وجود نه دهېواد دآزادۍ او د افغان ولس او ټول مسلمان ملت دهیلوسره سم دلته دیوآزاد اسلامي نظام دنفاذ په لار کې دا یوه ډېره عظیمه لاسته راوړنه ده.

۱۸ کلونه وړاندې پرافغانستان دیرغل لپاره دراپیدا کړې پلمې دختمولو لپاره دافغانستان اسلامي امارت په مسلسل ډول امریکا ته دمذاکراتو دعوت ورکاوه خو په خپل زور او زرو مغرورې امریکا داسلامي امارت دې غوښتنې ته التفات هم نه کاوه او نه یې په مادي

لحاظ کمزوري افغانان ددې وړ بلل چې دمذاکراتو په مهز ورسره دځو دقیقولپاره کیني.

خودافغانانو دسپیځلي جهاد په برکت چې امریکا او اتحادیانو یې شکست وخوړ نو دغرور دنګ مارونه یې داسې ونړېدل چې اوس له خپل لوړې اسلامي امارت ته دمذاکراتو خواستونه کوي ؛داسلامي امارت دروازه ټکوي دوتلو لپاره پُرامنه لار غواړي؛ اوهماغه امریکاچې ۱۸ کاله وړاندې د ۱۶ دقیقو لپاره هم داسلامي امارت سره خبرو ته نه وه تیاره اوس یې ډېر دلوړې پایې هیئت پوره ۱۶ ورځې داسلامي امارت د نمایندګانو مخې ته کینې ؛ ورنه دوتلولار اوداډاډ غواړي چې له افغانستان نه به پر امریکا حمله نه کېږي .

دا اوس دافغان ولس اوټول مسلمان ملت لپاره ډېرې خوښۍ او دالله تعالی دلوي شکر مقام دی چې هغه امریکاچې دټولې نړۍ یواځینی لوی ځواک ګڼل کېږي ؛دنړۍ دټولوپرېکړو ځان مالکه بولي ؛ په خپل مادي طاقت بې حده زیاته مغروره ده اوپه خپل تاریخ کې یې ډېرو لویو ستونزو دحل لپاره دخپل دښمن سره دومره اوږده مذاکرات ندي کړي .

خو دافغانانو دسپیځلي جهاد په برکت چې امریکا داسې شکست وخوړچې په خپل تاریخ کې یې داسې شکست ندی خوړلی نواوس به دخپل مقابل سره داسې اوږدو ناستو ته هم اړ کېږي چې په خپل تاریخ کې یې ورته ځان اړ ندی ګڼلی .

صد آفرین دافغانستان په غریب اوقلندر ملا چې یې اول امریکا په جنګ کې ۱۸ کاله مصروفه وساتله اوپه نظامي ډګر کې یې ټولې نړۍ ته رسوا اوپر ټولې نړۍ یې رعب دخاورو سره خاوري شو اوبیا یې خپلې مخې ته پوره ۱۶ ورځې کښاستو ته اړه کړه او پرې یې خپل سیاسي برلاسی ثابت کړ.

نوځکه ټوله نړۍ اوس دې اعتراف ته اړ ده چې پر خپل دښمن په نظامي ډګر کې دبرلاسی په نتیجه کې په سیاسي ډګر کې دا لاسته راوړنه داسلامي امارت لپاره ډېرعظیم بریالیتوب دی .

په داسې حال کې چې افغان ولس اوټول مسلمان ملت دامریکا له ذلت نه ډک شکست د سولې اړوند اوسنو پرمختیاوو ؛ جریانونو او په سیاسي ډګر کې دافغانانو دې تاریخي فتحې ته سخت خوشاله دي د کابل د مزدور رژیم د تش په نامه مفکرینو ، بې سواده سیاسیونواوجاه طلبواومادە پرستو چارواکو چوکۍ اولوییې مادي ګټې چې په خطرکې پرېوتې دي نو زړونو کې یې سرې لمبې بلې شویدي او حواس یې له لاسه ورکړي دي نوځکه دحواس باخته خلکوپه خبر دسولې په اړه دروان جریان سره په خورا ډېر نامعقول او بې شرمه انداز مخالفت ښکاره کوي ؛ځان نړۍ ته شرموي اوپه خپل ولس کې یې دمنفورکېدوسطحه ښه ډېره په پورته ځي ؛ دکابل اداري لاسپوڅي مشراشرف غني خپل آقا ټرمپ ته خطونه لېږي او په ډېرې عاجزۍ ورنه غواړي چې ټول فوځیان مه اوباسه لږ خامخا پرېږده ،مصارف به یې راکم کړو خو ټرمپ دخپل غلام خبرې ته ېښې التفات ونکړ او نه یې دی یا دده خبره د اعتنا وړ وبلله .

د کابل رژیم مکارو چارواکو چې خپله ډېره انزوا او دآقا له نظره غورځېدل محسوس کړل نو ټولې نړۍ ته یې چیغې او نارې ووهلې ، د سیمې او ګاونډیو هیوادونو دروازې یې په مکرر ډول وټکولې ، ترځو له

طالبانو سره د سولې په روانوخبرو اوجریاناتو کې هغوئ تـه هـم د ګـډون کولـو اجـازه ورکـړل شي ؛ امریکـا اوګڼونورو هېوادونو هـم پـه مـذاکراتوکې دکابـل اداري پـه ګـډون اصرار وکـړ **خـو صـد آفـرین داسـلامي امارت پـه اسـتقامت چـې پـه خپلـې برحقـې او معقولې تګلارې کلـک ودرېـد اوهمـدې کلـک دریځ او کامیابې دیپلوماسۍ یـې دغلامـانو او د افغان ولس د غلیمانو دغـه ټـولې هلـې ځلـې او حربې ناکامه اونامراده کړې؛ نړۍ کـې یـې نـور هـم بـې ارزښـته کـړل او ولـس تـه یـې ددې لاسپوڅو اصل مقام اومرتبه لاپسې روښانه کړه .**

کلـه چـې د کابـل اداري پـه لاسـپوڅو مشرانو د سولې اړوند د روانو مذاکراتو مخته د خنډ اچولو نـورې ټـولې لارې بنـدې او پـه دې پـوه شـول چـې هـېڅ یـې ترلاسه نشو کړای اوحیثیت یـې لـه خـاوروسره خـاورې شونو حواس له لاسه ورکړل ؛دخپلې شړۍ نه یـې پښـې وویستې اودخپل حیثیت نه یـې لـوی ګـام واخسـت ؛د ملي امنیت سلاکار حمدالله محب یې امریکا ته ولېږه ؛ ترڅو د سولې په روانو خبرو مخې ته خنډ جوړ کړي او دټرمـپ اونـورو امریکـایي سیاسـتوالو شـکوک او بـې باوري راوپاروي نـو حمدالله محـب چـې د چـوکۍ او قـدرت پـه خـاطر یـې خپـل حـواس او عقـل لـه لاسـه ورکړی وو مخامخ یې د امریکا د مـذاکراتي پـلاوي پـه مشـر (زلمـي خلیلـزاد) تونـدې نیـوکې شروع کـړې او پخپلو نیوکو کې یې دا څرګندونه وکـړه چـې خلیلـزاد د سولې د پروسې له لارې ځان قدرت ته رسول غواړي .

امریکایان چې نور ورته خپـل دغـه تـالې څټـې دماشین دبـې کـاره اوغورځېـدلوپرزوزیات حیثیـت نـه لري، ددې څرګندونوپه مقابل کې یې په عمل کـې هـم همداسې وکړل لکه دماشین دبې کاره شوې پـرزې سره چې پکار وي ؛ پـه ټولـو دیپلومـاتیکو اصـولو او آدابـو ورتېـره شـوه او د کابـل د غلامـې اداري د مـلي امنیـت سلاکار یـې پـه امریکـا کـې د بهرنیـو چـارو وزارت تـه احضـار ، د هغـه ټـولې خـبرې یـې ور رد کـړې ؛ دهغـه اودنوروغلامومشرانوحیثیت یې ورتـه وروښـود او ورتـه یې خبره واضحه کړه چې تاسې د امریکا غلامان یئ نو باید له خپل حیثیت نه یوقدم هم وړاندې نه وای تلـلې! غلام ته دا حق نشته ؛ چې په خپل بـادار نیـوکې وکـړي یاورته لار ور وښایې .

امریکایانو د محب په دغه سپکاوي اکتفـا ونکـړه بلکې ورته یـې وویـل ؛ چـې ډیـر ژر لـه امریکـا څخـه ووځه او چې بیا هیڅکله هم امریکا ته را ونه ګورې!

ددې پرځای چې لاسپوڅې اداره د خپل سلاکار د سپکاوي له امله امریکـا تـه شـکایت وکـړي او یـا پـه کابل کې د امریکا سفیر ته خپل احتجاج لیک وسپاري ؛ برعکس یـې پـه خپـل سـلاکار خولـه پرانیسـتله چـې خبرې یې غیر مسؤلانه وې او ممکن له همدې املـه لـه دندې هم لیرې کړل شي .

دامریکا په کتاب کې دغلام سره وفا نشته ؛ تاریخ یې دادی چې تـل یـې دخپلوغلامـانوسره جفـا کړیـده اوچې تـرې یـې کـار اخسـتی بیـا یـې پـه خـالي میـدان پرېښـې دي ؛دکابـل اداري لاسـپوڅي هـم دهمداسـې برخلیـک سره مخـامخ کېـدونکي دي ؛ ډېـرژر بـه ټـول دامریکا له درنه ورټـل شي ؛ ورتـه بـه وویـل شي تاسـې زموږ په ملیاردونو ډالر ضایع کړل تاسـې نـالایق خلـک یئ ددوستۍ وړ نه یئ ؛ چې بیـا دامریکـا پـر لـور راونـه ګورئ !

حبیبی سمنگانی

اشغال، پایان اشغال و نقش منفی رسانه ها

کسانی زیادی اند که بـر سیاسـت، عملکـرد و خط مشی طالبان نقدهای کـم و بیشـی دارنـد، یقینـا این نقدها قابل بحث ها و گفتگوهای جدی است و طالبان هم باید نقدپذیر و جوابگو باشـند. امـا شـاید هـیچ کسـی ازیـن حقیقـت مجـال انکـار نـدارد کـه افغانستان از سوی امریکا و ناتو اشغال شده اسـت و اکنون یک کشور مستعمره است. صرف نظر ازینکـه طالبان در عرصهء استقلال کشور چـه نقشـی انجـام داده اند و یا انجام می دهند، سوال اینست که نشـریه ها و رسانه های (ظاهراً) افغانی در جریان هژده سال اشغال چه نقشی را ایفا کردند و حالا که افغان ها بـا قربانی های تاریخی شان به مرزهای پیروزی رسـیده اند، این رسانه ها اوضاع کنونی را چگونـه انعکـاس می دهند ؟

در قوسین اشـاره شـد (ظـاهراً) افغـانی. بلـی، حقیقت اینسـت کـه بخـش اعظـم ایـن نشـریه هـا و رسانه های چاپی و برقی اگر چه نام و نشـان افغـانی دارنـد و کارمنـدان شـان افغـان هـا هسـتند، امـا در واقعیت به پول خارجی ها بنیانگذاری شـده و هنـوز هم به حمایت مالی خارجی ها به ویژه سازمان هـای

استخباراتی و سفارتخانه های کشورهای مختلف فعالیت می کنند و از سوی خارجی ها کنترول می شوند.

در سالهای اول اشغال امریکایی، صدها رسانه های چاپی، تصویری و شنیداری همچون نهال های خودرو در سراسر افغانستان روی کار شدند. در حقیقت، این رسانه ها به حمایت مالی دولت ها، نهادها و مؤسسات غربی به وجود آمده بودند. این رسانه ها هیچگونه درآمد و عوائد داخلی نداشتند و تمام هزینه های شان را خارجی ها تحت عنوان «کمک با سکتور رسانه های خصوصی» و یا «ترویج آزادی بیان» پرداخت می کردند. اما درین سالیان اخیر، هرگاه کمک های مالی خارجی ها کاهش یافت و یا متوقف شد، تعداد زیادی از این رسانه ها از فعالیت ماندند. چنانکه مؤسسهء «نی» یا نهاد حمایت از رسانه ها اعتراف کرد که میان سال های ۱۳۹۳ - ۱۳۹۶ خورشیدی بیشتر از ۲ صد رسانه به دلیل مشکل مالی از فعالیت بازماندند و شماری هم درخواست لغو برای جواز فعالیت شان داده اند.

حقیقت دیگر اینست که مراکز، دفاتر، مسئولان و کارمندان ارشد این رسانه ها در کابل تحت فشارهای مستقیم اشغالگران و ارگان های ملکی، نظامی و استخباراتی اداره کابل فعالیت می کنند. اشغالگران و اداره کابل نه تنها چهره های گماشته شده و زرخرید خود را به عناوین مختلف در سطوح پایین و بالای این رسانه ها جا داده اند بلکه این رسانه های ظاهراً آزاد مجبور هستند که پالیسی های نشراتی و برنامه های اطلاع رسانی، خود را طبق مقررات و خواسته های اشغالگران و ادارهء اجیر ترتیب بدهند و به هر چه آن ها می گویند آمنا و سلمنا بگویند.

حقیقت سوم اینست که صاحبان امتیاز و یا تیم رهبری بیشتر این رسانه ها، سیکولران، غربگرایان و یا هم ثروتمندان، زورمندان و تفنگ سالارانی اند که ارزش های دینی و استقلال کشور برای شان ارزش و معنای ندارد. ترویج فحشا، پیشبرد اهداف شخصی و مشغول ساختن اذهان مردم به لهو و لعب، در اولویت های ایشان قرار دارد.

عجب اینست که این رسانه ها خود را در قبالِ وضعیت کنونی افغانستان بی طرف می دانند، یعنی به این کاری ندارند که امروز افغانستان آزاد است یا در چنگال استعمارگران، گویا در مورد اشغال کشور نگران نیستند. اما در بابت آیندهء افغانستان بسیار نگران هستند که سرنوشت دموکراسی، سیکولاریسم و کلتور و فرهنگ غربی درین کشور

چطور خواهد شد و «مبادا» نظام اسلامی یـا قـوانین شرعی درین جا حاکم گردد.

از همینســت کــه از یکســو شــب و روز از خطرات و پیامدهای نظام اسلامی هشدار مـی دهنـد و از سوی دیگر به نقل از سران و ژنـرالان غربـی بـه ویژه امریکایی، با سرخط های ساخته و بافتـهء خـود تـلاش مـی کننـد نظامیـان و حامیـان رژیـم کابـل را روحیه و مـورال بدهنـد. چنانچـه عنـاوین و سرخـط هـای را مشـاهده مـی کنـیم کـه : «نگرانـی زنـان از مذاکرات صلح» «دسـتآوردهای زنـان قربـانی صـلح نخواهند شد» «امریکا حتا بدون هزاران سرباز، یـک بازیگر عمده در افغانستان بـاقی می‌مانـد» «نظامیـان امریکــایی در افغانســتان مــی ماننــد» « نگرانــی شهروندان از بـهخطر افتـادن دسـتآوردها» « ترمـپ تعامل بد با طالبان را نخواهد پذیرفت» و.....

اخبار و راپورهای این رسانه ها در قبال اوضاع جنگـی افغانسـتان همـواره یکطرفـه بـوده اسـت. بـر اساس آمار و ارقامی که این رسانه هـا بـا اسـتناد بـر اعلامیـه و خبرنامـه هـای سـخنگویان اشـغالگران و اداره کابل در هژده سال گذشته نشر کـرده انـد، بایـد تا اکنون حد اقل بیش از یک ملیون مجاهدین شـهید و زخمی می شدند و تمام خاک افغانستان در کنـترل اشغالگران و اداره کابل می بـود. امـا افغـان هـا مـی دانند که هـیچ یکـی ازیـن رسـانه هـا جـرات ایـن را ندارند که نمایندگان خود را به مناطق جنگی و یـا بـه ولسوالی ها و دهات بفرستند و تلفات واقعی هر دو طرف و خسـارات و مشـکلات مـردم ملکـی را کـما حقه بازتاب بدهند. کلا و حاشا.

متاسفانه، این رسانه هـا بـه حیـث بلنـدگوهای اشغالگران و اداره کابل استخدام شده انـد و از خـود تحقیق، تلاش و جستجوی را به خرج نمـی دهنـد و یا اگر از حقیقت ماجراها خـبر هـم شـوند جـرات و توانایی پخش آن را ندارند. از همینسـت کـه نـه تنهـا افغان ها به گذارش های ایـن رسـانه هـا بـاور نمـی کنند، بلکه رسانه های مستند و مشـهور جهـانی نیـز آماده نیستند که از گذارشات ایشان اسـتفاده بکننـد. زیرا آن ها می دانند که این گذارشات تنها بـر مبنـای اعلامیه ها و خبرنامه های سخنگویان امریکا، نـاتو و اداره کابل ترتیب داده شده است و بس.

درین اواخر، بعضی ازین رسانه ها با ذبیح الله مجاهد، سخنگوی امـارت اسـلامی مصـاحبه هـایی انجام داده اند. نکته مهم اینسـت کـه در جریـان ایـن مصاحبه ها، همواره مبارزهء طالبان در برابر نظامیـان اداره کابل و نیـز مشروعیت جنـگ طالبـان در برابـر نظام تحمیلی کابل زیر سوال برده می شـود (و یقینـا سخنگوی طالبان پاسخ های قناعت بخشی ارائه می کند) ، اما آیا شما گاهی دیده ایـد و یـا حتـی تصـور هم مـی توانیـد کـه ایـن رسـانه هـا موضـوع اشـغال

کشور
را که یک واقعیت
بزرگ و سرمنشا تمام مشکلات کنونی افغانستان و افغان ها است زیر بحث آورده باشند و یا در مورد مشروعیت این نظامی که به طرح و دیزاین غربی ها ایجاد شده است، سوالی کرده باشند؟

این رسانه ها با عملکرد خود چنین نشان می دهند گویا تنها کسانی که مخالف حضور نیروهای خارجی در افغانستان و یا بر ضد نظام کنونی کابل هستند باید نکوهش و سرزنش شوند، تا از موقف بر حق و منطقی خود منصرف گردند. اما آیا خود این رسانه ها مسئولیت ندارند که برای استقلال کشور حد اقل صدای خود را بلند بکنند و نشان بدهند که ما با طالبان و چگونگی مبارزه و مقاومت آن ها مشکل داریم، اما در واقع ما نیز حامی اشغال افغانستان نیستیم و حضور نظامی امریکا و ناتو بر خلاف تاریخ، باورها و معتقدات این مرز و بوم است.

اگر تاریخ مبارزه های آزادی خواهی اقوام و ملت ها مطالعه شود، علما، شعرا، دانشمندان و نویسنده گان نقش عمده ای در رهنمای و بیداری فکری آن اقوام و ملت ها و حیثیت کلیدی در پیروزی مقاومت ها داشته اند.

به ویژه در مقاومت های بزرگ قرن نزده و بست میلادی، مطبوعات و اهل قلم با همه چالشها و مشکلاتی که مواجه بودند قربانی های بزرگی را در راستای آزادی کشور و ملت خود با صد افتخار متقبل شدند. اما با صد تاسف، امروز بیشتر رسانه ها و چهره های رسانه یی اند در حالیکه لاف از دانش و روشنفکری می زنند، خود را در تنگنای «جنگ در برابر تروریسم» محصور کرده اند و بیرون از آن نمی توان بیاندیشند. گفته می شود که ژورنالیسم ابزار مؤثر برای مقابله با استبداد و استعمار است، اما متاسفانه، امروز ژورنالیسم و ژورنالیستان از سوی استعمارگران استخدام شده اند. تاریخ یقینا از ایشان به نیکی نام نخواهد برد.

دامریکائي جنرال اعتراف...

او ځوډاکیانو ته د خلیل زاد پیغور...

فرهاد اتل

پرون دحمل په ۱۴مه نیټه دامریکا مشرانوجرګې یوې کمیټې ته دامریکا دپوځ یو مهم جنرال (میکنزي) دافغانستان جګړې په اړه معلومات ورکول وویل:

مورِ اافغانستان کې امن نشو راوستی او نه پر طالبانو باندې پوځي ډګر کې بری مندلی شو

هغه وویل: طالبان ٦٠ زره جنګیالي لري او مورِ دهغوی په مقابل کې هلته یواځي ١٦زره سرتیري لرو چې هغوی لپاره دطالبانو سره مقابله ګرانه ده

جنرال میکنزي دا هم وویل: د طالبانو لخوا دوی د سخت مقاومت سره مخ دي چې په سبب یې هلته دامریکا زیانونه ډیر دي اومورِ یې ستړي کړیو اوپه راتلونکي کې مورِ کوم پرمختګ اوبری نشو ترلاسه کولی.

دسیاسي اوپوځي چارو کتونکي دامریکایې جنرال څرګندونې هیښونکې بولي دهغوی په اند امریکا په افغانستان کې په ټول ځواک شکست سره مخ ده اوداعتراف پرته بله چاره نلري اوپه وړاندې یې (بې د خیبره) بله لار نشته چې له افغانستانه ځواکونه وباسي او روان وحشتونه پای ته ورسوي زکه چې هرځومره جګړه طول نیسي۔ د دوی په زیانونو او تلفاتو کې زیات والی راځي دکومو چې دوی دبرداشت چې دوی نوز زغم او حوصله نه لري .

درسنیو په قول: دامریکا ولسمشر ډونلډ ټرمپ دافغان جګړې پای ته رسولو لپاره ډیر جدي او ورخطاء دی ، سپینې مانې ته چې دافغانستانه هر جنرال ورځي دی دهغوی نه په ورخطائي سره پوښتنه کوي: مورِ کله راوځو؟ ښکاري دامریکا یانو ستومانې یواځي دجنرالانو او په جګړه کې دښکېل پوځیانوپورې محدود نده بلکې دامریکا دولسمشر په سویه تري ستومان بریښي او په ډیره ورخطائي سره یې دپای شیبې شماري

استازي زلمي خليل زاد په ارګ کې چې داشرف غني او دهغه دټيم په ګډون د اپوزيسيون احزابو دمشرانو سره ګډه کتنه وکړه په هغه کې داشرف غني ټيم دقطر په پلازمينه(دوحه) کې دطالبانو او امريکا ترمنځ دروانو خبرو بهير سره مخالفت وښود، په ځواب کې خليل زاد ورته دپيغور په ډول وويل: ستاسو دخوا دسولې مخالفت ښيي چې دلته دهغو خلکو نماينده ګان نشته دچا خپلوان چې په جګړه کې وژل شوي وروسته شمشاد سره په مرکه کې هم خليل زاد وويل: چې امريکا دجګړې نه ستړې شوې او نور دجنګ دوام نه غواړي او هم هغه افغانان چې په جنګ کې زوريدلي سوله غواړي اوهغه خلک چې په جنګ يې کوم تکليف ندی ليدلی هغوی دجګړې دوام غواړي، خو امريکا خپلو منافع وته پام پريکړې کوي خوښکاره ده چې هرکله دافغانستان څخه دامريکا منافعوته کوم ګواښ پيښ نه وي امريکا په افغانستان کې پوځي حضور نه غواړي او کله چې داباور راشي چې نور افغانستانه امريکاته تهديدونه نه جوړيږي امريکا خپل پوځي شتون پای ته رسوي

خو اشرف غني شرم و حيا نلري، بيا هم دخپل ګوډاکي واک د دوام لپاره جګړه غواړي، اودسولې دراتلو سره مخالفت لري نو دخليل زاد وروستی څرګندونې اشرف غني او دهغه دټيم لپاره د پيغوره ډکې دي که وربانديې پوی شي ليکن اشرف غني غلام ضمير او مړوجدان ددې احساس نلري او دافغانانو کوکارې نه اوري او په جنګ کې دځان مزې و چړ وينې، هغه پوهيږي چې افغانستان جګړې پای ته رسيدل دده لپاره مرګ دی او پکې خپل حشر وويني.

دا هسې کوم تش خيال ندی بلکې څرګند حقيقت دی چې امريکا جګړه بايللې اونوره تړې ستړې شوې، دټيرو ٦ميا شتو راهيسې منطقې اونړۍ ته د دامريکا دبهرنيو چارو وزارت دځانګړي استازي زلمي خليل زاد دومدار سفرونه، مجلسونه او ملاقاتونه ښيي چې امريکا يان دجګړې نه په تنګ راغلي او هڅه کوي چې محضي داوړو پوزې په جوړولو سره ځان ددې جګړې نه بيغمه کړي.

دحمل په ۱۴مه نيټه دامريکا دحکومت ځانګړي

نوی کال او نوې هیلې !

شاهد (غزنیوال)

نوی ۱۳۹۸ کال په داسې حال پر افغانانو راځي چې د جګړو ، بمونو او وحشتونو په لمبو کې هغوی د سولې او امن سیوري ته هم هیله مندي لري.

که له یوې خوا مریکایي اشغالګر او د هغوی اردلیان پر مظلومو افغانانو بمونه او توپونه اوروي ، خو له بلې خوا بیا همدا افغانان د بین الافغاني تفاهم په پلمه په لویوغونډو او جرګو کې سره راټولیږي ، د خپل هیواد د راتلونکي په اړه غږیږي ، تبادل نظر کوي او داسې ټکیو ته سره نیږدي کیږي چې وکړای شي له مخې یې د هیواد روان ځلویښت کلن ناورین ته ورکې د پای ټکی کیښودل شي.

اشغالګرو امریکایانو چې ۱۹ کاله وړاندې یې زمونږ د هیواد پر حریم یرغل وکړ او دلته یې د نړۍ له ګوټ ګوټ نه مغروره جګړه مارې لښکرې راوستلې نن یې الحمد لله د افغان مجاهد ولس د جهادي مقاومت له امله هماغه ټول کفري غرور تر پښو لاندې شوی او په ټیټو سترګو د مجاهدینو مشروعو غوښتنو منلو ته اړیستل شوي دي.

د افغان مجاهد ولس د ځپلو او محکومولو لپاره د امریکایي اشغالګرو ټول پوځي ، تخنیکي او استخباراتي ځواک اوبه شوی او ټولې شیطاني دسیسې یې شنډې شوې دي.

اوس هغوی ته هیڅ داسې وسیله نه ده ورپاتې چې خپل هدف ته د رسیدو په لاره کې دوی ته موثریت ولري.

په افغانستان کې په خپلو فاسدو مزدورانو دومره بې اعتماده شوي چې نور نه دوي خپله د مجاهدینو په وړاندې د مقاومت تاب لري او نه یې

هم اجرتي مزدوران له مجاهدينو سره د جنګيدلو روحيه .

فاسدو مزدورانو يې هم خپل منځي وحدت له لاسه ورکړی او هريو د بل په خلاف په توطيو او سازشونه جوړولو لګيادی.

د دې ترځنګ د مجاهدينو صف ورځ تربلې محکم او مضبوط او د مقاومت په سنګرونو کې يې پوځي وړتيا او جهادي روحيه مخ په لوړيدو ده.

سره له دې چې لا هم امريکايي اشغالګر او د هغوی ايتلافي انډيوالان (ناټو ځواکونه) له خپلو ټولو پرمختللیو وسائلو سره په افغانستان کې ميشت دي ، خو له هغه سره سره د هيواد تر نيمايي زياته برخه د مجاهدينو تر کنټرول لاندې ده.

مجاهدين له پراخ ولسي ـ حمايت څخه برخمن او د هيواد په مفتوحه سيمو کې ټولې اداري چاري د ولس په ملتيا پرمخ وړي.

د ولسي حمايت ترځنګ نړيوال هم ديته تيار شوي چې د جهاي مقاومت له برحقې داعيي نه ملاتړ وکړي ، هغه په رسميت وپيژني او د ديپلوماتيکو چاينلونو له لارې له هغوی سره سياسي اړيکې ټينګې کړي .

په مسکو کې د افغانستان په اړه په رابلل شوي کانفرانس کې د اسلامي امارت د سياسي استازيو رسمي ګډون، او دوهم ځل د مسکو په بين الافغاني غونډه کې د اسلامي امارت فعاله برخه ، د ازبکستان ، ايران او نورو ګاونډيو هيوادونو لخوا د اسلامي امارت سياسي استازيو ته رسمي بلنې او له هغوی سره ملاقاتونه ټول زمونږ د ادعاء ښکاره بيلګې دي.

پورتني واقعيتونه هغه څه دي چې مونږ ته په نوي کال کې د نويو ښوهيلو هيله مندي را کوي.

لوی خدای دې نوی ۱۳۹۸هجري لمريزکال د افغان جګړه ځپلي ولس لپاره د سولې ، سوکالۍ او امن کال وګرځوي.

الله تعالی دې نور ځوريدلي افغانان په خپل هيواد کې د اسلامي حاکميت تر سوري لاندې د هوسا، بسيا او نيکمرغه ژوند څښتنان کړي.

اللهم آمين

د قلم له مورچله ...!!

موسی فرهاد

«أحِــب لِلنّــاسِ، مَــا تُحِــبُّ لِنَفسِــکَ» ... الحديث

حديث شريف کې راځي چې، د نورو لپاره هم هغه څه خوښوه، څه چې دې د ځان لپاره خوښ وي.

د «قلم له سنګره» کتاب مې ستاسو لپاره په دې وجه خوښ کړی، چې خپله مې خوښ شوی، ډېر داسي څه مې پکې لوستي چې بل ځای مې نه دي موندلي، رښتيا درته وايم يو بې جوړې کتاب دی، مؤلف يې هم د زماني يو داسي ملنګ شخصيت دی، چې له متواضع بڼې نه خو ملنګ ښکاري، ولې ځوان استعداد، ريښتينولي، سپېځلتيا او اخلاص يې په قلم کې خدای شته، ښه اغيز ښندلی دی. الله دې نور هم ښه لري.

د «قلم له سنګره» دا کتاب ګوتې کې ووايو چې پر يوه موضوع ليکل شوی هم سمه ده او که ووايو نه، پر بيلابيلو موضوعاتو مشتمل دی، هم سيي خبره ده.

په اصل کې دا کتاب د تقريباً يوې يا يوه نيمي لسيزي د بيلابيلو حالاتو اړوند ليکل شويو مقالو يوه مجموعه ده، په دې لحاظ طبعي ده چې موضوعات به يې شيندلي او بيلابيل وي.

خو دا چې په حقيقت کې دا کتاب د حق د سنګر په دفاع کې ليکل شوی، هغه سنګر چې دا لږ کم دوې لسيزي يې په مقابل کې د نړۍ د زبرځواکونو د وسلوال يرغل ترڅنګ، رسنيز او قلمي يرغل هم ښه په زور کې جاري ساتل شوی، ترڅو د حق دا مدافع سنګر ته ماتي ورکړي، او پرځای يې د باطل سمڅه محکمه کړي؛ د همدې لپاره ډېرو ضعيف الوجدانه قلموالو هم خپل قلمونه او ضميرونه د متاع قليل په بدله کې وپلورل او د همغه باطل ښکر په ننګه يې په ډېره سپين

سترګې سره داسي چاري ته ملا وتړله چې تور سپين کړي او سپين تور.

په دغه لحاظ د قلم له سنګره کتابګوټي موضوع خورا بسيطه او بالکل يوه ګڼلای شو. او پردغه يوه موضوع زمونږ مسلمانه، مجاهده ټولنه ډېر لږ څه لري نسبت د دښمن تبليغاتي وثيقو ته. نو پکار ده چې بايد اعظمي استفاده تري وکړو.

د قلم له سنګره دا وړه ټولګه هم داسي وګڼئ چې د يرغلګرو د زرګونو باطلو رسنيو په وړاندي به د هغه آټم بم کار کوي چې واقعاً د باطل د هر سحر د بې اغيزي کيدو کې به دومره مؤثر وي لکه د موسی عليه السلام يوه عصا د فرعون د سلګونو ساحرانو په مقابل کې.

په اتو څپرکو کې راټولي شوې دا لسګونه مقالې چې څه باندي څلورسوه مخيز کتاب ترې جوړ دی؛ د قاري عبدالستارسعيد زرمتي صاحب هغه غوره مضامين دي چې د روان جهادي بهير له پيله تراوسه د امارت په رسمي او نورو غير رسمي رسنيو کې وخت په وخت خپاره شوي دي.

د راټولولو اهتمام يې د فرهنګي کميسون د تأليف او ترجمې د څانګې لخوا شوی، چې په خورا مناسب صحافت يې ترتيب کړی، کتاب يې ډېر ښکلی راغلی پکي ليکل شوي مضامين هم خورا نايابه دي چې پرهرمضمون يې جلا تبصره کول؛ به يوه بله درنه ټولګه توليد کړي.

نو د کتاب د محتوا په اړه د وتلي ليکوال نوراحمد سعيد صيب دا څو کرښې کافي ګڼم چې وايي: ((دا کتاب، پيچلي موضوعات په داسي اسلوب او معيار وړاندي کوي چې که کوم سيکولر او کمونيست ليکوال ليکلی وای؛ نو په هر فصل به د کوم پوهنتون او اکاډمی له لوري د څېړنيار او پوهنيار رتبو ته پري ترفيع کړل شوی وای.)) او بل ځای وايي چې ((د قلم له سنګره، کتاب فني ځانګړتيا دا ده چې په معياري ژبه ليکل شوی، تکراري ترکيبونه پکي نشته، جملې يې لنډې او رواني دي، له موضوعاتو سره سرسري چلند نه دی پکي شوی، ضروري تفصيل وړاندي کوي، او په زيربحث سکالو په آسانه او ښکلي اسلوب د لوستونکي سر ورخلاصوي.))

نو زه مختصراً دومره ويلای شم چې نوموړي، ټولني ته ډېر ستر او ارزښتناک کار کړی او لا ور کې مخ روان دی، خدای جل جلاله دې ورته دراز ژوند، سلامتي او لا زياتي بريالوي ورنصيب کړي.

په اخير کې يوځل بيا تکراروم چې د قاري صيب دا أرزښتناک اثر مې د ځان لپاره خوښ کړی، ستاسو لپاره يې هم سپارښتنه کوم، اميد دی چې زمونږ د نوي کوُول تاند قلموال يې هرو مرو د مطالعې لپاره ځان ته پيدا کړي. ترڅو په خپل قلمي او فرهنګي سفر کې د «زاد او راحلې» په څير استفاده تري وکړي.

دیمکراسۍ؛ د غور څلی (منار) ونړوه !!

لیکنه : خبیر احمد م

لـه تېـرو ۱۸ کلونـو راهیسـې د امریکـایي تـالې څټو غلامانو د نـورو زهرجنـو تبلیغاتو ترڅنګ دا خبره شـپه او ورځ پـه خولـه ښـکته او پورته کېدلـه ؛ چې طالبـانو د افغانسـتان تـاریخي او مـلي زیرمو او آثارو ته ارزښت نـه ورکـاوه ، د بـودا مجسـمه او بوت یـې ونـړاوه ؛ لـه همدې املـه کـه امریکایـانو پـه افغانسـتان یرغـل راوړو ، نـو ددوي پـه غـلام فکـر دا یـو پرځای ګام او مناسب کار وو.

خو په امریکایي انډوخر او د تمـدن او پېشرفت پـه غوبل کې نه دا چې د افغانستان تاریخي زیرمـې ، شـتمنۍ او لرغـوني آثـار چور او غلا شول ، بلکې د یوه طرحـه شـوي پـلان لـه مخـې د افغانسـتان د اسلامي تمدن او ملي عظمـت تـاریخي څلـې او منارونـه یـو پـه بـل پسـې نسکور او نړېدل .

راپورونـه وایـي چـې پـه دې وروسـتیو کـې د غـور تـاریخي منـار د دیمکراسۍ او د غربي تمدن د ډنـډورچیانو پـه نـارو سـورو او زیـروبم کـې مات او را ونړېد .

د غور ولایت د جام په تنګي کې د جام مینار د هریرود په غاړه لـه نـن څخه ۸۱۵ کاله وړاندې په دولسمه پېړۍ کې د غوري امپراطورۍ پر مهـال د سلطان غیاث الدین غوري د سلطنت په دور کې په اسـلامي نقـش او زړه راښکونکي رسم الخط سره تاسیس شوی او ډیزاین شوی و .

سلطان غیاث الدین غـوري د افغانسـتان د نـورو اسـلامي معمارېـو ، مزاراتو او نقاشیو ترڅنګ د هرات د جامع او تاریخي جومـات مؤسـس هـم یادېږي .

د غور دغه تاریخي څلی (منار) ٦٥ متره لـوړ او د هندوسـتان د قطـب له منار وروسته یې په نړۍ کې دویم مقام درلود .

په ۲۰۰۲ مـیلادي کـال کـې د یونیسـکو د نړیـوال سازمان له لوري د غـور منـار د نـړۍ پـه تـاریخي لرغونـو اثارو کې شمېر او ساتنه یـې د ټـولې نـړۍ ګـډ مسـؤلیت وبلل شو .

تېر کال یو شمېر لرغون پېژندونکو دا اندېښنه په ډاګه کـړې وه چـې د غـور دغـه تاریخي (ځلی) منار د ساتنې او حفاظـت لپـاره د دولـت او نړیوالو موسسو له لوري هیڅ ډول تـدابیر او لازمـي لارې چـارې پلټـل نـه ترسـترګو کیږي.

تردې پورې چـې د هغـو لویو بار وړونکو لاریو لپـاره هـم کومـه متبادلـه لار جـوړه نشوه چې شپه او ورځ به یـې د منار په څو متری کـې مـزل کاوه چې له امله یې منـار تـه جدي خطرونه پیښېدل .

له دې وړاندې یعنې تېر کال د افغانستان د غلیمانو لـه لوري د کابل ښار په ختیځه برخه کې د چکړې تاریخي منار چې (تیغ غره) په لوړه څوکه یې موقعیت درلود چې ۲۷ متره یـې لـوړوالی وو او تـاریخي قدامت یې لومړي قرن یعنې د کوشیانیانو دور پورې رسـېده ، پـه دې پلمـه چې نوموړی منار ترمیم کوي؛ د تل لپاره یې سقوط او دفن کړ .

افغانان اوس په دې پوه دي ؛ چې د کابل د ګوډاګي رژیم غلامان چـې په ظاهره یې ډیر خوارۍ او زړا راښکونکي نومونـه پـه ځـانونو ایښـي ؛ هـره ورځ سوونه مظلوم او بې دفاع افغانان د امریکایي ګټو او مصالحو په خاطر د ویر او ماتم په ټغر کینوي او د افغانانو له تباهۍ او بربـادۍ څخـه خونـد اخلي ؛ همغو خاینو غلامانو د تېرو ۱۸ کلونو په اوږدو کې د افغانسـتان لـه ملي زېرمو او معنـوي ارزښـتونو سره تـاریخي جفـاوې او خیانتونـه تـرسره کړل.

په خاص ډول د تاریخي سیمو او اثارو د ساتنې او خوندیتوب په پلمو یې د افغانستان سلګونه تاریخي سیمې ، مقامات او حتی قبرونه یې وپلټـل ، قیمتي اثار او توکې یې تړې یـوړلې او هرځـه یـې د تـل لپـاره نسـکور او کنډو کپر پرېښودل .

د افغانستان له تاریخي ارزښتونو او ملي شتمنیو سره د کابل رژیـم د مزدورو چارواکو د دښمنۍ او بدنیتۍ به تردې بل سند څه وي ؛ چې د کابـل رژیم مشر (اشرف غني) له امریکایي ولسمشر څخه په یوه پـټ لیـک کـې غوښتنه کوي چې دافغانستان ټول کانونه ، معدنیات او د تـاریخي سـیمو د کینـدنو او اسـتخراج واک او اختیـار درکـوي ؛ خـو پـه دې شرط چـې لـه افغانستان څخه امریکایي ځواکونه ونه باسي ؛ ځکه کـه امریکـایي عسـکر ولاړشي نو بیا دوي (ګوډاګیان) د طالبانو په مقابل کې دیـوې اونـۍ لپـاره هم د ټینګ پاتې کېدو توان نه لري .

په نیوزیلانډ کې پر جوماتونو د بریدونو موخې...

حسن زوی

څه موده دمخه په نـوي زيلانـد کـې پـر دوه جوماتونو بريدونه دومره دوحشت او دهشـت نـه ډک وو چې ټوله نـړۍ يـې ولړزولـه ؛ دا دردونکـي بريدونه داسې نه وو چې له پامه وغورځول شي يا ژر هېر کړای شي ؛ دې حملو ډېر زيـات سـوالونه له ځان سره راپيدا کړيدي دا بريدونـه عـادي نـه وو بلکـې ترشـايې ډېـر سـتر پـلان ښـکاري؛ دې بريدونو که لـه يـوې خـوا دلويـديځ منافقـت او داسلام او مسلمانانو سره جـوړه دښـمني نـړۍ تـه لاپسې روښانه کړه نو بل لور ته پکـې دمسـلمانانو لپاره دعبرت ډېر لوي درس هم دی .

سفاک قاتل مسجد ته دننوتلـو نـه پـس هـر هغـه ځـوک پـه نښـه کـړ چـې ورتـه پـه مخـه ورغلو؛هغه دې ته ونه کتـل چـې ځـوک عـرب او ځوک عجم دی ځوک تور دی او ځـوک سـپين دی ځوک ددې هېواد خپل اوسېدونکی مسلمان دی او ځوک له بهر نه راغلی ؛ ځوک کلک مسلمان دی او ځـوک کمـزوری دی؛دچـا ډېـره شـته او د چـا نشته؛کومه مېرمن پرده داره ده او کومه لوڅ مخې ده؛ کوم پکې بالغ او کوم نابالغ دی ځوک ځوان او ځوک بوډا دی ؛ ځوک دجهاد حامي او ځوک دجهاد مخالف کم نصيبه دی؛ځوک ملا اوځوک امي دی؟

دا يې هم نه ده معلومه کړې چې دچا دوژلـو اراده لري تړاو يې دکوم مسـلک او کـوم مـذهب سره دی؟

بس يواځې دې ته يې کـتلي و چـې ټـول مسلمانـان دي؛ ټول ديو خـداى منـونکي دي ؛ ټول ديو پېغمبر امتيان دي؛ ټول يـو جومـات ته دخپل رب عبادت لپاره راجمع شوي ؛ د يـو امام پسې ولاړ او يـو رب تـه سـجده کـونکي دتوحيد پتنگان او دمحمـد صـلى الله عليـه وسلم پرنوم او ناموس فدايان دي.

دهغه لپاره بې له کوم توپيره دا ټول يـو ډول ددومره نفـرت وړ وو چـې بايـد ووژل شي او نـور پرې نه ښوول شي چې په نوي زيلانـد کـې ژونـد وکړي.

نو زمونږ دښمن مونږ ټول ديـو مسـلمان ملـت په صفت پېژني او همدا زمونږ مسلماني زمـونږ سره ددوئ ددښـمنۍ اصـل او يـواځنی لامـل دی؛خـو دتأسف مقام دی چې مونږ ټول مسلمانان په عمـل

کې یو ملت نه یو چې همدا زمور ذلت او خواري اصل لامل دی.

مور الله تعالی یو منو خو دالله تعالی دا یو حکم په عمل کې نه منو چې دالله تعالی پردین کلک شئ او دتفرق او انتشار نه ځانونه وساتئ !

نن مسلمانان دسخت انتشار او تفرق ښکار دي؛ دیو دارالاسلام او واحدحاکمیت پرځای د ٦٠ نه پرزیاتو تقسیم شوي دي او په ډېرو ځایونو کې همدې ویش او تقسیم دیو بل دښمنان ګرځولي ؛ دیو بل سره په ګډو پولوپراته ډېر کم اسلامي هېوادونه به داسې وي چې وي ګاونډیتوب یې ښه وي.

زیاتره ګاونډي اسلامي هېوادونه داسې دي چې پرسرحداتو پراته دواړو لورو ته خلک یې دین دیو والي تر څنګ دیوې ژبې؛ یوې قبیلې؛یورنګ یو کلتور خلک وي او په خپلو کې خپلوئ هم لري خو په منځ کې یې داسې کرغېړن دیوالونه؛ازغن تارونه او کرښې راښکل شوي وي چې یو دبل سره په کلونو کلونو نه شي لیدلی او دیو نه بل لورې ته اوړېدل دپاسپورټ او ویزې پرته ناممکن ګرځول شوي وي.

په ډېرو مواردو کې ګاونډي اسلامي هېواد خپل بل ګاونډي هېواد باندې دحملې ګواښونه کوي او عملاً هم ډېر اسلامي هېوادونه دنورو اسلامي هېوادونو پرضد په جنګ کې اخته دي.

په هېوادونو کې دننه هم ډېر مسلمانان د قومي ژبنېزو ؛سمتي تنظیمي او مذهبي تعصباتو ښکار دي او په ګنو هېوادونو کې دهمدې تعصباتو پربنسټ دهېوادونو دتجزیو لپاره خو ځیښتونه هم روان دي.

زمور دښمنانو ډېر جور پلان له مخې او په ډېر چل او مکاري زمور په ټولې اسلامي ټولنې کې دښستېالنې او روشن فکري یا دیموکراسي تقسیم رامنځته کړیدی ؛نو په افغانستان ؛کشمیر؛ فلسطین ؛ صومالیه ؛ یمن،شام یا برما کې که د وحشي- کفارو په لاس هغه ځوانان شهیدانېږي چې دخپل ځان ،دین، عزت ،اسلامي خاورو ،مسلمان ملت نه ددفاع په موخه راپورته شوي او پدې لار کې خپلې وینې او سرونه قربانوي نو ځان روشن فکره او لبرال ګنډونکې مسلمانان پرې نه یواځې دا چې نه خفه کېږي بلکې پرې خوښي ښکاره کوي .

خبره له خوښې ښکاره کولو هم اخوا تللې ځکه چې همدا پراسلامي نړۍ مسلط ځان روشن فکره ګنډونکي حاکمان دښستېالنې په جرم مسلمان ځوانان نیسې او وحشي- کفارو ته یې سپاري.

ارمان! چې دنومي مسلمان سره دکفارو ددې دښمنۍ نه مسلمانانو عبرت اخستی وای؛ د بیلتون او جداوالي ټولې مصنوعي پولې یې نړولای او یواځې مسلمانان او ورونه ورونه ګرځېدلي وای ؛ همدا دالله تعالی هغه رسۍ ده چې پدې وخت کې وربانديې منګلو لګولوته مسلمانان تربل هروخت زیاته اړتیا لري ځکه چې اوس دمسلمانانو پرضد ټول کفر یو ځای شویدی.

تاسې وګورئ! دا پېښه څومره دوحشت نه ډکه ده خو دلويديځ رسنئ او حاکمان دا تروريستي پېښه نه ګڼي؛ له رسنيو چې اورو يواځې دکانادا او پخپله دنوي زيلاند لومړي وزيرانو دا پېښه تروريستي پېښه وګڼله نور ټول دا دتشدد پېښه ګڼي تروريستي پېښې ګڼلو ته يې ندي تيار.

ډېره دتعجب ور خبره ده که يومسلمان دخپل ځان،دين،عزت او خاورې نه ددفاع په خاطر ټوپک ته لاس کړي هغه تروريست او عمل يې تروريزم وي خو که په افغانستان ،عراق، شام، صومالیه، فلسطين، برما او نورو هېوادونو کې دزرونو بلکې سونو زرو بې ګناه مسلمانانو وينې دوحشي خونخوارو کفارو په لاس تويېږي نو دوئ تروريستان نه وي او نه يې دا عمل تروريزم وي.

په همدې لويديځ کې که يو مسلمان دکوم نا مسلمان پسې چاقو راوويست که دې مسلمان دچاقو ګوزار نه وي کړی نه يې خپل مقابل جانب زخمي کړی وي بيا هم دا تروريست دی او دده عمل تروريزم دی خو که يو وحشي مسيحي جومات ته ورننوځي او د ۵۰ نه زيات بې ګناه مسلمانان په خپلې عبادتخانې کې وژنې نولويديځ يې تروريست نه ګڼي بلکې هڅې کوي چې روانې مريض يې ثابت کړي.

بريدګر پدې پوهيدلو چې دا دمسلمانانو جومات دی؛دجمعې ورځ ورته معلومه وه ؛دجمعې دلمانځه وخت يې هم پېژندلو اتومات وسلې يې اخستې او کارولای شوې؛کرايست چرچ سيمه دانسانانو نه ډکه وه په سرکونو،لارو او بازارونو کې يې په يو نا مسلمان هم ډز ندی کړی؛خو بيا هم دغرب رسنی او حاکمان وايې چې هغه شاید روانې مريض وي؟!

په يو پرمختللي،انصاف او قانون ته ژمن باثباته هېواد کې دداسې پېښې رامنځته کېدل څه کوچنی خبره نده.

که دې پېښې ته په غور وکتل شي نو په يقين سره ويلې شو چې دا د نړۍ ستر پلان نتيجه کې رامنځته شويده او ريښې يې جوړې اودبل ځای سره وصل ښکاري؛ بريدګر په خپلو ټوپکونو ګڼ هغه تاريخونه ليکلي وو چې پکې دمسلمانانو او مسيحيانو په رامنځته شويو جنګونو کې مسلمانان مغلوب شوي؛ ددې نړۍ له ليکلو نه دهغه هدف په لويديځ کې دمسلمانانو پرضد دمسيحيانو دراپورته کولو او په لويديځ کښې داسلام دتېز خپراوي دمخنيوي له هڅو پرته بل هيڅ څه نه شي کېدای.

دي کې شک نشته چې بريدګر ته به ويل شوي وي چې دمسلمانانو دوينې او سرونو په نړۍ کې هيڅ قدر نشته او نه يې څوک دپوښتنې شته؛ددوئ دوژلو نه پس به په ټولې نړۍ کې شهرت ومومي ؛ټولو يهودانو او مسيحيانو کې به مقبوليت درپه برخه شي؛په زندان کې به له اسانتياو ډکې څو شپې ورځې تېرې کړې بيا به دې وکيل ستا د رواني مريضتيا دعوی وکړي

محاکم به دې هم مریض وګڼي راخلاص به شي او بیا به سپین باز ګرځي.

هـو! ښـکاري چـې همداسـې بـه وشي؛پـه لویدیځ کې دمسلمانانو دقاتلینو لپاره دسـزا تمـه هسې هم نه شي کېدای خو دکوم هدف لپاره چې دا برید داسلام او مسلمانانو دښمنانو تنظیم کړی هغه هدف به هیڅکله هم ترلاسه نه شي .

داسلام دښمنانو فکر کاوه چـې پـدې پېښـې به په ټول لویدیځ کې دمسـلمانانو او مسـیحیانو ترمنځ یو لوي اخ وډب رامنځته شي؛دمسـلمانانو قتل عام به وشي او لویـدیځ تـه بـه دمسـلمانانو دراتلو او داسـلام دخپرېـدا مخـه ونیـول شي خـو الحمد لله چې دا یو هدف یې هم ترسره نه شـو او نه به ترسره شي.

دنوې زیلاند لومړی وزیرې جیسنډا ټیکری په سرکړو ؛ دشهیدانو شویو مسلمانانو کورونو تـه ورغله او ورنه یې پدې ښښنه وغوښـتله چـې یـې دمسلمانانو ساتنه او ددې خونړی پېښې مخنیوی ونه شـو کړای؛بریـدګر یـې تروریسـت وګڼلـو او دشهیدانو کورنیو ته یې دسترې معاوضې ورکولـو اعلان وکړ؛دشهیدانو په یـاد کـې ددې هېـواد پـه پارلمان کې ځانګړې غونډه وشوه؛غونډې ته دراتلو پرمهال بیا هم لومړی وزیرې ټیکری په سر کـړی و؛پارلمان ته په راننوتلو یې السلام علیکم وویلـو ؛ غونډه دقرآنکریم په تلاوت پیـل شـوه او تـلاوت پرتلویزون نشر شو؛ داسې دنوي زیلاند په تـاریخ کې په ړومبي ځل وشـول ؛ پـه یـوې اوونـۍ کـې داسـلام او مسـلمانانو سره پـه ټـول لویـدیځ کـې عموماً او په نـوې زیلانـد کـې پـه ځـانګړې ډول دخلکو همدردي او رغبت ډېر زیات شو او دخپرو شویو محتاطو ارقامو له مخـې د ۴۷۰۰ نـه زیـات سړي او مېرمنې پراسلام مشـرف شـول او دا لـړی اوس هم ښه په تېزی دوام لري.

دراتلونکې جمعې په ورځ چې ګڼ مسلمانان دې جومات ته دلمانځه لپاره راغلل نو ترڅنګ یې ډېر لوي شمېر نا مسـلمان هـم راغـلي وو او ټولـو مسلمانانو سره خپله خواخوږي ښکاره کړه ؛ دنوي زیلانډ په تاریخ کې په ړومبـي ځـل پـه سـپیکر اذان وشو او په تلویزون خپـور شـو او پـه ړومبـي ځل پکې په یوځای کې دجمعې دومره ستره جمعه په ښه شان شوکت او عقیدت سره وشوه.

دا هم مهمـه ده چـې دې هېـواد یـا بـل کـوم غربي هېواد کې مسلمانان ونه وېرېدل نه یـې پـه جرأت کـې کمـوالی راغلـو او نـه یـې هـم خپـل معمولات ودرول.

داسلام دا دښمنان باید پـدې پـوه شي چـې اسلام هغه سمندر دی چې پـه څپـو کـې یـې تـل تلاطم وي او کومه پېښه واقعه،حادثه او هڅه یـې مخه نه شي نیولی او نه به یې ونـیسي ؛ ددا سـې پېښوپه رامنځته کولو به داسلام دښـمنان لاپسـې بـدنامېږي اواسـلام بـه دتېـزې سـیلې پـه څېـر خپرېږي . ان شاء الله تعالی.

میوند سادات

د اسلامي امارت ثبات

اسلامي امارت دخپلې مبارزې له پیل څخه داسي اسلامي- ملي موقف غوره کړی، چې مسلمان ملت او گران هیواد یې له ډیرو ناخوالو او ستونزو ژغورلی،په تېره کله چې غربي اشغالگرو پر افغانستان یرغل وکړ، اسلامي امارت د زمان او مکان له خوار ډیرو مشکلاتو سربیره خپله ایماني او وجداني وجیبه (جهاد) پیل کړ، دې لار کې له ډیرو ستړیاوو سره مخ شو، شهادت، اسارت، زخم او بېلابیل جسماني او رواني تعذیبونه او فشارونه یې وزغمل،خو له خپلې برحقې داعیې او پاکې مبارزې څخه پر شاه نشو.

استعماري ځواکونو، گاونډیانو او داستعمار داخلي چوپړمارو د مختلفو حربو او دسیسو په کارولو سره ډیرې هڅې وکړې، چې داسلامي امارت په اهدافو کې خنډ او خنډ جوړ کړي، خو داسلامي امارت ثابت دریځ ددښمن هرڅه په اوبو لاهو کړل.

داسلامي امارت ثابت موقف او حقانیت یرغلگر دښمن مجبور کړ، چې خپله ماته ومني، داسلامي امارت سره دخبرو میز ته راشي، د سلگونه زره پوځیانو پر ځای یوازي د زر او دوو زرو عسکرو دپاته کیدو غوښتنې تکرار کړي او ژمنه وکړي چې نور چې تاسي څنگه حکومت غواړئ هماغسي یې جوړ کړئ،مگر اسلامي امارت پر خپل موقف ټینگ پاته شوی او د یرغلگرو ځواکونو پر یو مخیز او هراړخیز وتلو یې اصرار کړی دی.

ځیني جگړه خوښي جهتونه او اشخاص له مختلفو لارو هڅې کوي چې د سولې روانه پروسه سبوتاژ کړي او لا هم په گران وطن کې دیرغلگرو دایمي شتون او جگړې ته لاره هواره کړي. اسلامي امارت بار- بار واضح کړي او وایې چې له ټولو لارو به هڅه کوي گران هیواد ازاد او دخلکو د خوښي اسلامي نظام جوړ کړي.

داسي نظام چې اسلامي وي او دټولو قومونو او قشرونو استازیتوب وکولای شي، ارضي تمامیت خوندي وي،ملي وحدت قایم وي،د ظالم لاس لنډ وي، مظلوم ته خپل حق رسیدلی وي او دامکان ترحده ولس په تعلیمي، صنعتي، صحي، اقتصادي او... برخو کې دپردیو له احتیاج څخه خلاص او خودکفاء وي.

اسلامي امارت په اثبات رسولې چې داسلامي ارزښتونو او ملي منافعو پر ضد هیڅ هم نه مني،مور په دې باور یو اسلامي امارت چې تراوسه خپل دریځ ثابت ساتلی، همداسي به راتلونکي کې هم ثبات ته دوام ورکوي.

دا سلام غزوات او سرایا

دمکې مکرمې عظیم الشانه سوبه

□ په تیر پسې
□ ابوظهیر

په (مرُّ الظهران) کې تم کیدل:

کدید مقام نه په روانیدو ماسخوتن مهال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او صحابه (مرُالظهران) ته چې ورسیدل هم هلته تم شول او رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حکم وکړچې:

هرڅوک دې دخپلې خیمې مخ ته اورونه بل کړي

په عربو کې دا پخوانی دود و چې لښکرو به اورونه بلول، هغه ته په پام رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دبلولو حکم وکړ، قریشوسره دخپل کړي عهد ماتولو په وجه اندیښنه پیدا شوې وه چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دوی ناڅاپه حمله ونکړې!د اورونو په لیدلو ابوسفیان بن حرب اوبدیل بن ورقاء او حکیم دحال معلومولو په غرض دمکې نه روان شول، څه مهال چې هغوی مرالظهران ته ورسیدل نو ورته په نظر لښکر ورغی ، وډارشول ابوسفیان وویل: داورونه دڅه دي؟ بدیل ویل: دا خزاعه قبیلې بل کړې! ابوسفیان: دخزاعه سره دومره لوی لښکر دکومه ځایه راغی هغوی خو ډیر لږدي؟

درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پیره دارانو چې هغوی ولیدل او سم دلاسه یې ونیول ، پیره دارانو ته یې ویل: تاسو څوک یاست؟

په ځواب کې و رته وویل شول: ر سول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او مورِ یې اصحاب یو!

خبرې روانې وې دې کې حضرت عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ چې درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په قچر باندې یې گزمه کوله هم راغی او دهغوی خوا ته نژدې ورغی، دابوسفیان غږ یې وپیژانده ورته وې فرمایل:

افسوس! ابوسفیانه! دا درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لښکر دی په خدای سوگند که پرتا یې بری ترلاسه کړ زه به ستانه سر قطع کوم او دقریشو خیر په دې کې دی چې ته امان وغواړي او اطاعت قبول کړي

ابوسفیان چې دعباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ غږ وا وریدـ ، د هغه طرف ور روان شو هغه وایي: ما عباس پیدا کړ

اوور ته کړل: ابو الفضله (دحضرت عباس کنیت و) زما مورو پلار دي په تا قربان شي نوايا دخلاصون او اخلاص هم څه صورت شته؟

عباس ویل: راځه! زما ترشاه په قچر کینه!

عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ځان سره په قچر پورته کړم، دمسلمانانو لښکرهغه ته کتل تري روان شو کله چې په حضرت عمر صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تیرشو هغه (حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ) زما په لیدو په مورِ پسې روان شو چیغه یې وکړه:

دا ابوسفیان دالله جَلَّ جَلَالُهُ او دهغه درسول دښمن دی، الحمد الله دکوم عهد اواو اقرارپرته راته په لاس راغی، حضرت عمر په مورِ پسې پلی او زه وعباس په قچر سواره روان وو او په منډه، منډه درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شوو اوعمر عرض وکړ:

یارسول الله!دا ابوسفیان دالله جَلَّ جَلَالُهُ او دهغه درسول دښمن دی، الحمد الله نن پرته دکوم عهد او پیمان مورِ ته په لاس راغلی ماته اجازت وکړه چې هم دا اوسترې سر قلم کړم

عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عرض وکړ یا رسو الله! ما ابوسفیان پخپله پناه کې راوستی

حضرت عمر توره په لاس ولاړ دی او بیا بیا همدا غوښتنه کوي: دابوسفیان دقتل لپاره درسو الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وړې اشارې ته منتظر دی عباس چیغه کړه اې عمر! صبر وکړه که دښوعدي څخه وای تابه یې په وژلو دومره اصرار نه وکړی خو ته پوهیږي چې دښي عبد مناف څخه دی په دې وجه په قتل یې اصرار کوي

حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ویل:

عباسه! په خدای تعالی سوګند ستا اسلام راوړل ماته دخپل پلار (خطاب) داسلام راوړو نه هم ډیر ګران و، کـه زما پلار اسلام راوړای ماته به دومره خوشالې نه وه راغلې څومره چې ستا په اسلام راوړو زه خوشاله شوم، زکه ښه پوهیدم چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ستا اسلام دخطاب داسلام نه ډیرمحبوب و، ستا په باره کې زما داخیال دی ته چې څه غواړي هغه وکړه

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت عباس ته حکم وکړ:

ته ابوسفیان ځان سره خپلې خیمې ته بوزه او سهاریې بیا ماته حاضر کړه

ابوسفیان ټوله شپه دحضرت عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په خیمه کې و، او حکیم بن حزام او بدیل بن ورقاء هم هغه وخت درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شول او په اسلام مشرف شول، ترڅه وخته رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغوی نه دمکې حالات پوښتل داسلام راوړو وروسته هغوی دواړه بیرته مکې ته لاړل څو خلک د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دراتګ څخه خبر کړي

دابوسفیان اسلام:

سهار عباس ابوسفیان درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضرکړ، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابوسفیان ته په مخاطب کیدو وفرمایل:

افسوس! ابوسفیانه! ایا هغه وخت ندی راغلی چې ته دا یقین وکړي چې د (لا اله الا الله) نه سیوا بل معبود نشته

ابوسفیان: زما مورو پلار دي په تاقربان شي ته نهایت حلیم و کریم او زیاته صله رحمې کوونکی یې

په خدای سوګند که دالله نه سیوا بل معبود وای هغه به نن زما په کار راغلی واو ستا په مقابل کې به مې دهغه نه کومک غوښتی و.

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :افسوس دی ابوسفیانه!چې ستا لپاره اوس لا هغه وخت ندی راغلی چې ماالله تعالی رسول اومني!

ابوسفیان: زما موروپلار دې په تا قربان شي بیشکه ته نهایت حلیم وکریم، او ترټولو زیات صله رحمې کوونکی یې،تراوسه مهرباني کوي باوجود دهغه عداوت نه پر ما مهربان یي، ماته په دې کې لږ ترد دی چې ته نبي یې که نه؟

خولږ وروسته دحضرت عباس په پویولو ابوسفیان اسلام قبول کړ، دابوسفیان داسلام راوړو نه وروسته عباس عرض وکړ:

دالله رسوله ! ابوسفیان دمکې سردار دی فخرخوښوي، نو ته دده لپاره یو داسې اعلان وکړه چې هغه دده لپاره دعزت، شرف او فخرموجب وي

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: ښه ده اعلان وکړه چې هرڅوک دابوسفیان کورته داخل شول هغه به مامون وي ابوسفیان وویل: یارسول الله ! زما په کور کې ټول خلک کله ځاپیدای شي ! رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: کوم خلک چې مسجد حرام ته ننوتل هغوی به هم مامون وي ابوسفیان وویل: مسجد هم کافي ندی رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: هرسړي چې خپله دروازه بنده کړه هغه مامون دی ابوسفیان وویل: هو! په دې کې ډیرزیات وسعت اوګنجایش شته

دهغه نه وروسته رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله دمر الظهران ځخه روان شو نو حضرت عباس ته یې حکم وکړ: ته ابوسفیان زان سره واخله او غره ته یې پورته کړه ځو دی(ابوسفیان) په سمه توګه اسلامي لښکر ووینې!

هغه و چې یو دبل وروسته قبایل په جوش وجذبه تیریدل شروع شول ابوسفیان یې په لیدو حیران پاته شو او ویلي:

ستا! دوراره حکومت ډیرلوی دی

عباس وویل:

دابادشاهت ندی بلکې نبوت دی، (یعنې ځنګه چې داود علیه السلام او سلیمان علیه السلام دظاهري شان و شوکت دپلوه سلطنت و،خو دمعنی او حقیقت دپلوه نبوت و، زکه چې هغه خارق عادت و، په ظاهري اسبابو او مادیاتو مبني نه و، هوائي الوتکې دمادي صنعت په زوربانديې الوزي خو دسلیمان علیه السلام تخت پرته دکوم مادي او ظاهري سبب دخرق عادت په توګه الوت کاوه دادهغه دنبوت دلیل و، دمعجزې په توګه هغه ته داشان و شوکت ورکړل شوی و، ځو دنړی سلاطین او دهغو مادي او ظاهري ځواک هیڅ وبولي او دخدایې نبوت په وړاندې سرونه ښکته کړې) په همدې توګه درسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داشان و شوکت که په ظاهره بادشاهت معلومیده مګر په حقیقت کې نبوت وپیغمبرې وه

هره قبیله به چې په مخ کې تیریده ابوسفیان به پوښتل داکومه قبیله ده ؟ ترټولو اول خالد بن ولید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د رزکسیز یا نهه سوه کسیز کنډک سره تیر شو، دهغه وروسته مختلف کنډکونه او ډلګي تیرشول تردې پورې چې په اخر کې دمهاجرینو او انصارو زري پوښ او وسلوال ډلګی هم راښکاره شو دمهاجرینو بیرغ دحضرت زبیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په لاس کې و،

او دانصارو بیرغ دحضرت سعد بن عباده رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په لاس کې وکله چې سعد بن عباده په مخکې تیریده دابوسفیان په لیدو سره په جوش کې راغی ویې فرمایل:

اليومُ يومُ الملَحمةَ اليوم تُستَحلُ الكعبة

ژ: نن ورځ دجنګ ورځ ده، نن به په کعبه کې قتل وقتال حلا ل وي

ابوسفیان ودارشو اوپوښتنه یې وکړه داخلک څوک دي؟ حضرت عباس ورته وویل: دا دمهاجرینو او انصارو لښکر دی چې پکې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پخپله هم دی ، کله چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مخکې تیریده ابوسفیان عرض وکړ:

یا رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ایا تا سعد بن عباده ته دخپل قوم دقتل اجازه ورکړې؟

او دسعد قول یې نقل کړ عرض یې وکړ:

یا رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زه تاته دالله تعالی دقرابتونو واسطه درکوم اوپه نیکی او صله رحمی کې ترټولو مخکې یې!

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

یا ابا سفیان الیوم یوم المرحمة يُعِزُّ الله فیه قریشا.

ژ: ابوسفیانه ! نن دمهربانی ورځ ده چې پکې الله تعالی قریشوته عزت ښېي

دبخاري په روایت کې دي:

كذَبَ سعدٌ لكنّ هذا يومٌ يُعَظِمُ اللهُ فِيه الكعبةَ وَيَومٌ تُكسى فِيه الكَعبةُ

ژ: سعد غلط ویلي نن دکعبې دعظمت ورځ ده او کعبې ته دغلاف اغوستو ورځ ده

او حکم یې وکړ چې بیرغ دسعد بن عباده نه واخلئ اودهغه څوی قیس ته یې ورکړئ

ځیرنه: دجوش او غلبې په حال کې دحضرت سعد دخولې نه یولفظ ووت کوم چې مناسب نه و، په دې وجه رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دهغه نه بیرغ واخیست لیکن ددې لپاره چې دهغه زړه مات نشي- دهغه څوی ته یې ورکړه یعنې صورتاً خو یې دهغه نه واخیست خو معناً دهغه سره وه، څومره لغزش چې و همهغومره تنبیه دیې ورکړه دکُل څخه یې واخیست او جز ته یې ورکړه زکه چې جز دکل نه مغاير نه وي

دابن عساکر په روایت: کله چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخکې نور تیرشو نو دقریشو یوې میرمنې ورته داشعر وایه:

يا نبیَ الهُدی الیکَ لجأَ حَیُّ قُریش ولات حین اللجا

ژ: اې دهدایت نبي! قریشو ستا په طرف کې پناه اخیستې حال داچې داوخت دپناه ندی

حِينَ ضَاقَت عَلَيهم سِعةُ الارضِ وعَاداهُم اِلهُ السماء

ژ: کوم وخت چې پراخه زمکه په هغوی تنګه کړای شوه او الله دهغوی دښمن شو

اِنّ سعدًا يُريدُ قَاصِمةَ الظُهرِ بِاهلِ الجحون والبطحاء

ژ: په تحقیق سره سعدبن عباده داهل حجون او اهلِ بطحاء ملا ماتول غواړي

دهغه وروسته ابوسفیان رخصت شو او په عجلت سره مکې ته راغی، او په لوړ غږ کې یې اعلان وکړ چې: محمد صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دلښکر سره یوځای روان دی زما رایه داده چې په هیڅا کې دومره ځواک نشته چې دهغه مقابله وکړي اسلام راوړئ سلامت به پاته شئ البته څوک چې مسجد حرم ته داخل شي هغه په امن دي، کوم خلک چې زما کورته ننوزي هغوی ته هم امان دی اویا څوک چې ځانو پسې خپلې دروازې بندې کړې یا وسله وغورځوي هغوی ته هم امان دی

دابوسفیان میرمنې هنډې هغه دبریتو ونیو وې ویل:

اې بني کنانه !دابوډا بیوقوف شوی معلومه نده دی څه جک وهي

ډیرې کنځلې یې وکړې خلک راټول شول ابوسفیان خلکوته وویل:

داخبرې اوس هیڅ ګټه نلري اې خلکو تاسو ددې ښځې په خبرو دوکه نشئ هیڅ شخص دمحمد ﷺ مقابله نشي کولی کوم سړی چې مسجد حرم ته ننوت په امن دی، کوم کس چې زما کورته ننوت په امن دی

خلکو وویل: کمبخته! خدای دې تا هلاک کړي ستا په کور کې څومره خلک راځي؟

ابوسفیان وویل: هرچا چې دخپل کور دروازه بنده کړه هغه هم په امن دی

او ابوسفیان خپلې میرمنې (هندې) ته وویل:

خیرپه دې کې دی چې ته اسلام راوړي کنه اوبه وژل شي څه !دخپل کور دروازه بنده کړه ، زه رښتیا وایم

خلکو ددې اعلان په اوریدو منډې کړل څوک مسجدحرام لاړل او ځینې خپلو کورونو ته ننوتل

مکې مکرمې ته ننوتل:

دهغه وروسته ر سول الله ﷺ دکداء لورته په مکه مکرمه کې داخل شو، مکې ته دننوتو په وخت کې رسول الله ﷺ دکعبة الله ادب و احترام په غایت درجې سره ملحوظ وساته، دتواضع لپاره یې سر ښکته کړی واوپه شاهانه شان اندازسره داخل نشو په صحیح بخاري کې دعبد الله بن مغفل رضی الله عنه نه روایت دی چې مادمکې فتح په ورځ ولیدل چې رسو ل الله ﷺ په اوښه (ناقه) سپور و اوپه خواږه غږکې یې (انافتحنا لک...) سوره تلاوت کاوه، او په تندي مبارک کې یې د لویې فتح په مهال مسرت، نشاط وفرحت او دانبساط نښو ترڅنګ

دخدای جَلَّجَلَالُهُ په دربارکې دتخشع، تضرع، تـذلیل او تمسکن اثار هم ځلیدل ، په اوښه باندې سپور و په تواضع سره یې غاړه مبارکه دومره ښکته کړې وې وه چې وښتان مبارک یې دکجاوې لرګي سره لګیدل. (رواه ابن اسحاق مرسلاً)

او درسول الله خادم او خادم زاده اسامة بن زید رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ردیف و، (بخاري شریف)

دحضرت انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی کله چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مکې ته فاتحانه داخل شونوټولو خلکو رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته کتل لیکن رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ډیره تواضع سره سرښکته کړی و(رواه الحاکم بسند جید)

په معجم طبراني کې دابوسعید خدري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی دمکې دفتح په ورځ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: دکوم څه چې الله تعالی ماسره وعده کړې وه او بیا یې داسورة اذا.... تلاوت کړ (زرقاني ۲ټوک ۳۲مخ)

درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نظر په دې و؛ چې یو هغه وخت و چې زه ددې ښار نه په څومره بې وسۍ سره هجرت ته کولو اړکړای شوم، او ددښمنانو څخه دوتو لپاره یواځي ووتم اوس دا وخت راغی چې د الله تعالی په مرسته او کومک دادی ښارته په فاتحانه شا ن وشوکت سره ننوځم

وذلک فَضلُ اللهِ يُؤتِيه من يشيآءُ

په دې وجه درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مبارک سر دتواضع نه خم و اودښپه پالان یې سرایښی و دشکر سجده یې اداء کوله چې بیشکه داستره او عظیم الشان فتح او دانصرت ټول شوکت و عظمت یواځي دالله تعالی فضل او انعام دی چې حق ته یې حکومت وباښه اوباطل سرنګون شو داسلام او ایمان نور وځلید او دکفر ظلمتونه لرې شول او دحرم خاوره دکفر او شرک دنجا ستونو څخه پاکه شوه

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې دکداء څخه په تیریدو دپورتنۍ خوانه مکې ته داخل شو او خالد بن ولید رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته یې حکم وکړ او تاکید یې ورته کړ چې ته پخپله ابتداءً شروع بالقتال مه کوه کوم سړی که په تا حمله کوله هغه سره جګړه کوه او زبیر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته یې دمکې پورتني جانب څخه دننوتو حکم وکړ هغه ته یې هم حکم وکړ چې ته په چا باندې په حمله کې لومړیتوب مه کوه یواځي دهغه چا سره جګړه کوه چې په تا حمله کوي دهغه وروسته پخپله په نهایتي ادب او احترام سره مکې ته داخل شو

کله چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مکې ته داخل شو نو لومړی یې د ام هانی بنت ابی طالب کورته تشریف ویوړو او هلته یې غسل وکړ ، بیا یې اته رکعته لمونځ اداء کړ دا دځانبنت وخت و (بخاري)

علماء دې لمانځه ته (صلاة الفتح) هم وایي،او داسلامي امراوو داطریقه وه چې کله به هغوی کوم ښارفتح کړنو دفتح شکرانې په توګه به یې ۸ رکعته لمونځ کاوه سعد بن ابی وقاص رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ چې کله مدائن فتح کړاو دکسری مانۍ ته داخل شو نو اته رکعته لمونځ یې په یو سلام سره اداء کړ(روض الانف ۲ټوک ۲۷۳مخ)

غالباً په همدې وجه دامام اعظم ابو حنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ قول دی چې د اته رکعته نه زیات په یو سلام کول مکروه دي، اُم هانی رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته عرض وکړ یا رسول الله زما د خاوند دوه خپلوان

تښتيدلي او زما کورته راغلي کومو ته چې ما پناه ورکړې او زما ورور علی هغوی وژل غواړي رسول الله ﷺ وفرمايل : هرچا ته چې اُم هانی پناه ورکړي مونږ هم هغوی ته پناه ورکړې علي ته پکار دی چې هغوی ونه وژني (البدايه والنهايه ۴ټوک ۲۹۹-۳۰۰مخ)

دلمانځه نه چې فارغ شو شعب ابي طالب ته لاړ، چيرته چې درسول الله ﷺ خيمه ولاړه وه، صحابه وو مکې ته دننوتو نه وړاندې درسول الله ﷺ نه وپوښتل چې تاسو به په مکه کې چيرته اوسئ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل:

چيرته چې قريش او کنانه بنی هاشم او بنې عبد المطلب کلابند کړي وو او پخپل منځ کې يې داعهد کړی و چې دبني هاشم او بنې عبد المطلب سره به ترهغه پورې راکړه ورکړه ، د واده اوښادی مراسم قطع کړئ خو هغوی مونږ ته محمد(ﷺ) ونه سپاري

زرقاني وايي : شعب ابې طالب دهمدې ځای نوم دی (زرقاني ۲ټوک ۳۲۴مخ)

په صحيح مسلم کې دابوهيرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله ﷺ انصار وروغوښتل او هغوی ته يې وفرمايل: قريشو ځينې لوچکان ستاسو دمقابلې لپاره راټول شوي که هغوی کوم حرکت وکړ نو دفصل په څير يې کټ کړئ

صفوان بن اميه اوعکرمه بن ابي جهل او سهيل بن عمر و په (خندمه) نوم ځای کې يوشمير لوچکان ټول کړي وو خالدبن وليد سره دهغوی مقابله وشوه دمسلمانانو څخه دوه تنه شهيدان شول (خنيس بن خالدبن ربيعه اوکرزبن جابرفهري) او دمشرکانو څخه دولس ديارلس تنه مړه شول نور وتښتيدل ، دا ابن اسحاق روايت دی

او دموسی بن عقبه په مغازي کې دي : چې خالدبن وليد دمکې دښکتنی برخې نه ننوت نو دبنوبکر او بنو حارث بن عبدمناة او دهذيل قبيلې يوشمير لوچاکان راټول وو دحضرت خالد بن وليد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په رسيدو په هغوی ويرا و انګولا ګډه شوه کله چې مقابله پيل شوه نو هغوی تاب رانه وړو،دبنوبکر تقريباً شل تنه او دهذيل درې يا څلور تنه قتل شول پاته نور وتښتيدل څوک په کورونو کې پټ شول او ځيني غرونو ته وتښتيدل ابوسفيان چيغه کړه:

کوم سړي چې خپله دروازه بنده کړه هغه په امن دی، کوم سړي چې خپل لاس ونيو هغه په امن دی درسول الله ﷺ نظر دتورو په څلاوو پريوت نو خالد بن وليد يې ځانته وغوښت وې پوښتل:

کيسه ده ماخو ته دقتل نه منع کړی يې!

نوربيا ...

سید سعید

جنګي جنایتونه (مارچ)

د ۲۰۱۹ز، کال دمارچ دمیاشتې په ۳مه نیټه دفاریاب ولایت ددولت اباد ولسوالۍ په قوزي بای قلعه کې حکومتي ځواکونو یو مسجد او کلینک بمبار کړي دي.

د مارچ په ۴مه ګډو ځواکونو دکندهار ولایت دشاولیکوټ ولسوالۍ د سرناوې په سیمه کې څلور تنه ولسي وګړي شهیدان او ټپیان کړي او پنځه تنه یې بندیان کړي دي.

د مارچ په ۵مه د لغمان ولایت دپادپښ ولسوالۍ په ګروچ سیمه کې دیرغلګرو په څو ډرون حملو کې نهه تنه ولسي وګړي شهیدان شوي دي.

د مارچ په ۵مه حکومتي عسکرو (ضربتیانو)د خوست ولایت دصبریو ولسوالۍ په کړو کلي کې یو زده کونکی شهید کړی، دشهید پلار او څلور نور کلیوال یې بندیان کړي دي.

د مارچ په ۵مه د ننګرهار ولایت دشیرزادو ولسوالۍ په ګندمک سیمه کې ګډو ځواکو دچاپې په مهال پنځه کورونه ویجاړ کړي او دوه کلیوال یې شهیدان کړي دي.

دمارچ په ۷مه دهلمند ولایت دنوزاد ولسوالۍ په تنګي سیمه کې یرغلګرو او داخلي عسکرو دکلي ملاامام ،دوه تنه ډاکټران او درې تنه نور کلیوال دبندیانو په توګه له ځان سره وړي دي.

دمارچ په ۸مه د هلمند ولایت دموسی کلا ولسوالۍ په خوجداد سیمه کې دیرغلګروپه ډرون برید کې دوه ملکي وکړي شهیدان شوي دي.

د مارچ په ۸مه اشغالګرو او داخلي عسکرو د ننګرهار لایت د حصارک ولسوالۍ په ناصرخیلو سیمه کې د ملکي خلکو په کورونو چاپه وهلې، دکورونو دروازې یې ماتې کړي، قیمتي توکي یې له کورونو وړي او په اخر کې یې پر سیمه بمبار کړی، په دغه بمبار کې د ډاکټر نظرګل په نوم ملکي هیوادوال د کورنۍ

دیارلس تنه غږي چې اکثره یې ښځې او ماشومان دي شهیدان شوي او دوه تنه ټپیان دي.

دمارچ په ۸مه د میدان وردګ ولایت د سیدآباد ولسوالۍ دتنګي درې په حسن خیلو، جوی زرین او دولت خیلو کلیو باندې د اشغالګرو او داخلي عسکرو په چاپه او بمبا رکې یو باب مسجد، یو کلینیک او ګڼ شمیر کورونه ویجاړ شوي او اووه تنه ملکي وګړي شهیدان شوي دي.

دمارچ په ۸مه د غزني ولایت د آب بند ولسوالۍ په اصغر او دوکوهي کلیو باندې ګډو ځواکونو چاپه وهلې، یو باب مسجد، دیارلس کورونه او یو باب دوکان یې نړولي او څلور تنه ولسي وګړي یې بندیان کړي دي.

دمارچ په ۹مه ګډو قواوو د غزني ولایت د واغظ ولسوالۍ په بدري او میرداد کلا کې دچاپو په مهال ۱ مسجد، ۱۰دوکا نونو او ۱۳ کورونه زیانمن کړي او د میرداد کلا د مسجد ملا امام یې له درو تنه شاګردانو سره بندي کړی دی. همداراز دقرباغ ولسوالۍ په باران کلا کې یې دګڼو کورونو دروازې په بمونو الوزولې، قیمتي شیان یې ترې وړي او دوه تنه کلیوال یې شهیدان کړي دي.

دمارچ په ۹مه د بادغیس ولایت دمرغاب ولسوالۍ په سرخلنګ سیمه کې دګډو ځواکونو په بمبارکې د یو ماشوم په شمول څلور تنه ملکي وګړي شهیدان شوي دي.

دمارچ په ۹مه د پکتیکا ولایت د برمل ولسوالۍ په رخه سیمه کې ګډو ځواکونو دچاپې په مهال اته تنه ولسي-وګړي شهیدان کړي.

د مارچ په ۱۲مه ګډو ځواکونو د ننګرهار ولایت دخوګیانو ولسوالۍ په ټټنګ سیمه کې چاپه وهلې، دکورونو دروازې یې ماتې کړې، قیمتي شیان یې ترې وړي او شپږ تنه ملکي هیوادوال یې شهیدان او دوه تنه یې ټپیان کړي دي.

دمارچ په ۱۲مه ګډو قواوو د غزني ولایت دشلګر ولسوالۍ په شیرکلا سیمه کې د ملکي خلکو یو پلانکوچ موټر په نښه کړی،اته تنه سپرلۍ پکې شهیدان شوي، ځایې خلک چې د شهیدانو په انتقالولو بوخت شوي الوتکو بیا بمبار پرې کړی چې له املې یې لس تنه نور ملکي هیوادوال شهیدان او ټپیان شوي دي.

دمارچ په ۱۲مه دهلمند ولایت دګرشک ولسوالۍ د قلعه ګز په سیمه کې دیرغلګرو په ډر ون حمله کې یوه ښځه اویو سړی شهیدان شوي دي .

دمارچ په ۱۳مه د فراه ولایت د بکوا ولسوالۍ د اشکین دتخت غونډۍ په سیمه کې یرغلګرو او داخلي عسکرو درې تنه ولسي-وګړي(حیمدالله ، تورجان او نورالله) شهیدان کړي دي.

دمارچ په ۱۳مه دارزګان ولایت دمرکز ترینکوټ په مراباد سیمه کې دګډو ځواکونو په بمبار کې درې تنه ولسي وګړي شهیدان شوي دي.

دمارچ په ۱۳مه د هلمند ولایت دمارجې ولسوالۍ په کرو چارراهي کې یرغلګرو یو موټر

ویشتلی او پکې سپاره درې تنه ولسي وګړي یې شهیدان کړي دي.

د مارچ په ۱۴مه ګډو ځواکونو دپکتیا ولایت دزرمت ولسوالۍ د سهاکو په هیبت خیلو سیمه کې چاپه وهلې،پنځه تنه ولسي وګړي یې شهید ان کړي دي.

دمارچ په ۱۴مه یرغلګرو او حکومتي قواوود میدان وردګ ولایت دسیدآباد ولسوالۍ شیخ آباد، زرین خیلو، کوډي، نوریو او خړیانو سیمو باندې چاپې وهلې،دوه مسجدونه یې ویجاړ کړي،د یو ملا امام په ګډون یې څو تنه کلیوال شهیدان کړي او ګڼ نور کلیوال یې دبندیانو په توګه له ځان سره وړي دي.

دمارچ په ۱۴مه دفاریاب ولایت د شیرین تګاب ولسوالۍ په فیض اباد سیمه کې دحکومتي قواوو دهاوان په ډزو کې یوه میرمن، یو ماشوم او دوه نارینه شهیدان شوي دي.

دمارچ په ۱۶مه د کندوز ولایت د چهاردرې ولسوالۍ په خلازیي سیمه کې ګډو ځواکونو اووه تنه عام کلیوال شهیدان او ټپیان کړي دي.

دمارچ په ۱۶مه حکومتي عسکرو د خوست ولایت د باک ولسوالۍ په سمن خېلو کې یو ملکي هیوادوال(حاجی لونګ) د کورنۍ دنورو غړو په مخ کې شهید کړی دی.

دمارچ په ۱۷مه حکومتي عسکرو د زابل ولایت په شهرصفا ولسوالۍ کې د حاجي عبدالجبار کور ویجاړ کړی او څلور تنه بزګران یې شهیدان کړي دي.

دمارچ په ۱۷مه داخلي عسکرو د خوست ولایت مرکز اړوندپیرکلي کې په یوه مدرسه چاپه وهلې، یو طالب العلم یې شهید کړی او درې نور یې په ټپي حالت کې د بندیانو په توګه له ځان سره وړي دي.

دمارچ په ۱۸مه یرغلګرو د میدان وردګ ولایت د نرخ ولسوالۍ په خواجه بلند سیمه کې دملکي وګړو د سپرلۍ موټر په نښه کړی او پکې سپاره څلور تنه ملکي وګړي یې شهیدان کړي دي.

دمارچ په ۱۹مه د زابل ولایت د شهرصفا ولسوالۍ په فولاد کلي کې ګډو ځواکونو دسیمه ییز کلینیک ډاکټر عبدالمحمد بندي کړی، ورور یې ورشهیدکړی او دنومورې دکورنۍ دوې میرمنې ټپیانې کړي دي.

دمارچ په ۲۰مه دپکتیکا ولایت د چاربران ولسوالۍ په سپینه کلي کې ګډو ځواکونو دمسجد دملاامام مولوي محمدیوسف په شمول دوه تنه نور ملکي وګړي(حاجي عبدالبصیر او جلال الدین) شهیدان کړي دي.

دمارچ په ۲۰مه دهلمند ولایت دګرشک ولسوالۍ د قلعه ګز د کنجک په سیمه کې یرغلګرو دوه تنه عام کلیوال شهیدان کړي دي.

د مارچ په ۲۰مه د هلمند ولایت دسنګین ولسوالۍ په شرافت سیمه کې ګډو ځواکونو دطالبانو یو زندان په نښه کړی، په

یاد شوي محبس کې حکومتي عسکر او جنایي اسیران بندیان وو، چې د بمبار له املـه لسګونه بندیان شهیدان شوي دي.

دمارچ په ۲۲مه د کندز مرکز تیلاوکه سیمه کې ګډو ځواکونو په یوه کوربمبار کړی، چې له املـه یې دیارلس تنه د یوه کور غړي شهیدان شوي دي. ددې ولسي وژنې په غبرګون کې خلکو پراخ لاریون وکړ، دشهیدانو جسدونه یې داعتراض په توګه له ځان سره لیږدول،مظاهره کونکو وویل چې پر کورونو دې بمباری او چاپې ودول شي، کنه غچ به واخلي.

د مارچ په ۲۳مه د غزني ولایت دزنخان ولسوالۍ په ګوګیراو فقیر کلیو باندې یرغلګرو چاپه وهلې، په ګوګیر کلي یې یوه دیني مدرسه او یو مسجد ویجاړ کړی،شپږ تنه دمدرسې زده کونکي یې شهیدان او دري تنه ټپیان کړي. په فقیرکلا کې یې هم یو مسجد او ګڼ کورونه په بمونو الوزولي دي.

د مارچ په ۲۳مه د ننګرهار ولایت دبهسودو ولسوالۍ په ګردي کځ سیمه کې اشغالګرو او داخلي عسکرو دچاپې په مهال شپږ تنه ولسي- وګړي شهیدان او ټپیان کړي او خلکو ته یې پراخ مالي تاوانونه اړولي دي.

دمارچ په ۲۳مه دفاریاب ولایت د المار ولسوالۍ په بازارکې داخلي عسکرو په یو ملکي وګړي (خیرمحمد) ټانګ خیژولی او نومورې یې شهید کړی دی.

دمارچ په ۲۴مه د نورستان ولایت دنورګرام ولسوالۍ په دمه ګل کلي باندې دداخلي عسکرو دتوپچي په ډزو کې پنځه تنه عام وګړي شهیدان او ژوبل شوي دي.

دمارچ په ۲۵مه دهلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ په ښورکي سیمه کې دیرغلګرو په ډرون حمله کې یو سپین ږیری ، درې ماشومان ا و ځلورښځې شهیداني شوي دي .

دمارچ په ۲۵ مه دکندز ولایت مرکز اړوند کنم او بز کندهاري سیمو کي دیرغلګرو په ډرون حملو کې دجوماتونو دوه امامام په نښه او شهیدان شوي دي.

د مارچ په ۲۵مه اشغالګرو او داخلي عسکرو د کابل ولایت د سروبي ولسوالۍ کرګو قلعه کلان کې د ښځو او ماشومانو په ګډون ځوارلس تنه ملکي وګړي شهیدان او ټپیان کړي او یو شمېر کورونه یې ویجاړ کړي دي.

دمارچ په ۲۵مه د ننګرهار ولایت دشیرزادو ولسوالۍ په توتو سیمه کې دیرغلګرو په چاپه کې پنځه تنه عام کلیوال شهیدان شوي او ګڼ کورونه زیانمن شوي دي.

دمارچ په ۳۰مه د غزني ولایت د شلګر ولسوالۍ په یرګتو سیمه کې د ملا نوح بابا لیسه باندې حکومتي عسکرو دهاوان اوایسفیجینین توپونو مرمۍ ویشتلې، چې له املـه یې د یو تن استاد په ګډون څلور تنه شاګردان شهیدان اویو ولس تنه نور ژوبل شوي دي.

مأخذونه : [بي بي سي راډیو،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ، پژواک = ،خبریال ویپانه ، لراوبر= ،نن ټکی اسیا=اوبینوا=]

د ۱۳۹۸ تعليمي کال په اړه د تعليم او تربيې اوعالي تحصيلاتو کميسيون اعلاميه

داچې د پسرلي موسم په راتلو سره د ټول هېواد په سرد سيره(سړو) سيمو کې نوی تعليمي کال پيليږي د افغانستان اسلامي امارت د تعليم او تربيې او عالي تحصيلاتو کميسيون هم له دې فرصت نه په استفادې غواړي هېوادوالو ته ډاډ ورکړي، چې نوی تعليمي کال به د نظامي او سياسي بريالوو تر څنګ ان شاءالله د ښوونې او روزنې په ډګر کې هم د بې ساري پرمختګ او لاسته راوړنو څخه ډک کال وي او مونږ ورته بشپړ چمتووالی لرو.

همدا يوه مياشت مخکې د هېواد د سويل لويديځو، شمال ختيځو او مرکزي ولايتو د تعليم او تربيې رئيسانو او معاونانو سره مو په ولايتو کې د تعليمي ستونزو د هواری او پرمختګ لپاره هر اړخيز تعليمي سيمينارونه ترسره کړل، چې لله الحمد ډير ګټور او په نوي تعليمي کال کې به يې عملي ګټې د تعليم او تربيې په ډګر کې ټول هېوادوال په خپلو سترګو مشاهده کړي. ان شاءالله تعالی.

د ۱۳۹۸ هـ ش تعليمي کال د پيل په مناسبت د ښوونځيو له مديرانو، استاذانو او د ښوونې او روزنې د څانګې له ټولو کارمندانو څخه مو هيله داده، چې نوی تعليمي کال په لوړو حوصلو او نويو ولولو سره دتعليم اوتربيې اوعالي تحصيلاتوله تعليمي اصولو سره سم پيل کړي او په پوره اخلاص او صداقت سره د ګران او جنګ ځپلي ولس زده کوونکو بچيانو ته د ښو زده کړود زمينې برابرولو سره خپل ايماني او ملي رسالت اداء کړي.

دغه راز له هېوادوالو غوښتنه کوو، چې د ښېرازه او آباد افغانستان لپاره د ښوونځي په عمر برابر خپل ټول ماشومان په ښوونځيو او ديني مدارسو کې شامل کړي او ترڅنګ يې هغه ماشومان چې د سهار لخوا ښوونځيو ته ځي، له وخت نه وروسته په کليوالي مدارسو کې شامل کړي، ترڅو له ښوونځي سره هم مهاله ضروري ديني مسايل هم زده کړي.

په پای کې يوځل بيا د ښوونې او روزنې څانګې له ټولو رئيسانو، مديرانو، استاذانو او کارمندانو څخه مننه کوو، چې د صليبي اشغالګرو او د هغوی د غلامانو له وحشيانه او ړندو بمباريو، شپنيو عملياتو او قساقسم ترور، وحشت او دهشت سره يې د معارف د کاروان منزل ته رسولو کې مونږ سره له هيڅ راز همکاريو ډډه نه ده کړې او لاهم په دې برخه کې د هرقسم ستونزو په ګاللو سره د ګران هېواد روښانه راتلونکې لپاره هڅې کوي.

و السلام

د افغانستان اسلامي امارت

د تعليم او تربيې او عالي تحصيلاتو کميسيون

۱۴۴۰/۷/۱۷هـ ق ۱۳۹۸/۱/۴هـ ش ـ ۲٤/۳/۲۰۱۹م

د باګرام زندان کې د یو بندي د وفات له امله
د بندیانو چارو کمېسیون اعلامیه

د باګرام له کرغېړن زندان څخه مو د خواشینۍ خبر تر لاسه کړ چې یو تن ناروغ بندي (عبدالحکیم د عبدالقدیر زوی) د پروان شینوارو ولسوالۍ اوسېدونکی په دغه زندان کې د ورپېښې ناروغۍ له امله په حق رسېدلی. اناالله وانا الیه راجعون

نومورې مرحوم بندي له څه وخت راهیسې له ورپېښې ناروغۍ څخه کړېده، خو د زندان چارواکو یې اساسي، او ضروري درملنې ته پاملرنه نه کوله، مرحوم عبدالحکیم د روان کال په ترڅ کې د نورو وفات شوو مظلومو بندیانو په څیر د قابل علاج ناروغۍ له کبله په حق رسیدلی.

دغه بندي په داسې حال کې خپل ژوند له لاسه ورکوي چې دکابل مزدوري اداري او یرغلګرو په زندانونو کې زرګونه مظلوم بندیان په بېلابېلو ناروغیو اخته او کړېږي.

خو دکابل اداره او غربي ملاتړي یې چې د بشري حقونو د دفاع مدعیان ځانونه ګڼي؛ د مظلومو ناروغ بندیانو تداوۍ او صحي وضعیت ته هیڅ ډول کړنلاره، او توجه نلري.

همدا ډول د بندیانو خپلوانو ته هم اجازه نه ورکوي چې د خپل ناروغ لپاره له زندان څخه بهر د علاج اسباب برابر کړي.

د افغانستان اسلامي امارت د بندیانو چارو کمېسیون یو ځل بیا پر ټولو نړیوالو حقوقي سازمانونو، روغتیایي خیریه بنسټونو، بشري ټولنو او ادارو ږغ کوي چې د دا ډول بشرضد کړنو په مخنیوي کې خپله وجیبه اداکړي، د انساني او اسلامي خواخوږۍ لمخې خپله هم لاس په کار شي او په دغه برخه کې پر اړونده چارواکو زور واچوي ترڅو د هغوی روغتیا او درملنې ته جدي پاملرنه وکړي. والسلام.

د اسلامي امارت د بندیانو چارو کمېسیون

۱۴۴۰/۷/۱۳هـ ق

۱۳۹۷/۱۲/۲۹هـ ش ــ ۲/۳/۲۰۱۹

د مورچل وینې

ګبین او زهر....

اکرام الدین مفتون

تاته هر رنګ عادتونه د غلام زده
یرغلګرو ته دې ډېر ډېر احترام زده

که یو څوک هیروشیما ته کوته نیسي
نو بیا ماته تاریخونه د وېتنام زده

تر هغې چې د یرغل ټغر ټول نه وي
نه مې خوب نه مې خندا نه مې ارام زده

د نیکه وراسته هډونه دې لږ پوښته
لا تر اوسه یې له ډاره زما نام زده

دوه قدمه د شاتک په مقابل کې
زر قدمه مې غلیمه مخته ګام زده

ما په جنګ کې هم اخلاق مات کړي نه دي
تا ته صرف یو کنځاوې او الزام زده

ماته دا جهان زندان دی غم یې نکړم
تاته یو پلچرخي زده او باګرام زده

زه د لااله الاالله قائل یم
تا ته هورا تاته پاپ تاته رام رام زده

لومړیتوب مونږه ښښنې ته ورکړی
کنه سل واره موسل رنکه انتقام زده

په یو وخت چاته ګبین شي چاته زهر
د مفتون څه عجیبه غوندې کلام زده

د علم زکات

عُقابي جانان

دربانديِ اوړي مولانا صاحب زکات د علم
جهاد ته ورکړه په اخلاص یوځه خیرات د علم

امت بیدار کړه په منبر د جهاد غږ پورته کړه
الله ﷻ به درکړي په عوض کې برکات د علم

په هر مجلس کې مجاهدو ته دعاوې کوه
بخل ونکړي هر ځای وښه صدقات د علم

حق ته حق ووایه په حق باندې محکم پاتې شه
حق نه تېر نشي مضبوط ونیسه صفات د علم

هم د دوستي او دوښمنۍ نه مؤمنان خبر کړه
چې کافران دې هم محسوس کړي اثَرات د علم

باطل ته تندر د آسمان شه پرې را وربړه
په طواغیتو باندې وکړه عملیات د علم

ای د جهاد د ډګرونو مجاهد عالمه
رب خو دې درکړي همه واړه درَجات د علم

عالمان دي د زمکې ستوري "عُقابي جانانه"

غزل

غازي انګار

دنفاق واشنټن

عصمت الله بشام

ستا د نفاق پر واشنټن به سپین بیرغ رپوم
مورِ ته تدریس د اتحاد ثالث عمر راکړی

جهانه مات به دې پر ملا کړو ډېر غرور مه کوه
په سپینه لاره کې رب مونږ ته سپین رهبر راکړی

د شپې لمنه به شي ټوله د رڼا په سترګه
په مینه زیری نن سپېدو د زیړي لمر راکړی

چې معطره د اخلاص وړمه هېواد کې شندي
د زړه ګلشن کې متعال داسې نښتر راکړی

دژوند خورجین کې یې دمینې بار اوږو باندې وړم
خاونده تا چې دې دنیا کې کوم دلبر راکړی

تیته تیاره د تروړمې به رڼا کیږي ضرور
په توره شپه پسې الله مونږ ته سحر راکړی

بشام له تانه ماسیوا بل هیڅ غمخور نه لرم
ربه پردو سره خپل هم پر زړه پرهر راکړی

د غره په څوکه کې پېره کوه! بیدار اوسېره
دغلیم مخ ته د دیوال په څېر عیار اوسېره

په محبت د پاک رسول دار او زندان ومنه
په عاشقي لکه بلال تل وفادار اوسېره

د ملنګي او د شاهي ژوندون هرڅه تېریږي
په بنده ګي باندې محکم د خپل بادار اوسېره

توره را واخله اشغالګر پرې تارومار کړه ځوانه
په حق سنګر کې تل ولاړ لکه چنار اوسېره

د مینې تنده دې کړه ماته سرو سکروټو باندې
بیا په محشرکې د کوثر جام ته خمار اوسېره

دبدن وینه دې که مشک او یا عنبر جوړوې
تل د زلمیو په کاروان او په قطار اوسېره

غازي انګاره سر په ځمکه په سجده شه رب ته
په ژړا وژاړه بیدار تر سپین سهار اوسېره

۲۰۱۹ زکال

د مـــارچ د میاشتې جهادي خبرونه



په بادغيس کې مجاهدينو له دښمن څخه لاسته راوړې ليزري وسلې او مهمات!

که هرڅو مو په وحشت کورونه وران شي، دحق لارويان به له حقې مبارزې لاس وانخلي!

دیمکراسی؛ دغور څلی (منار) ونړوه!! مخ:۲۲

MORCHAL

Islamic, Jihady, Educational and Cultural Monthly Journal